وزارت معارف
معینیت تعلیمات عمومی
ریاست عمومی نظارت تعلیمی
ریاست انکشاف پالیسی نظارت تعلیمی

# د ښوونيزي خارني لارښود
# رهنمای نظارت تعلیمی

سال چاپ: ۱۳۹۶ هـ . ش.

د پوهنې وزارت

د عمومي زده کړو معینیت

د ښوونیزې څارنې او ارزونې لوی ریاست

# د ښوونیزې څارنې لارښود

د چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ . ش.


بسم الله الرحمن الرحيم

# د افغانستان د پوهنیز نظام لرلید

د افغانستان د پوهنې وزارت لرلید د هیواد ټولو اوسیدونکو ته د باکیفیته ښوونې او روزنې د عادلانه لاسرسي د اسانتیاوو د برابرولو له لارې چې د اسلام د مبین دین له حکمونو، ملي او بین المللي ژمنو او بشری حقونو ته د درناوي له اساساتو سره سمون ولري، د بشري ځواک پر ودې، پیاوړتیا او پرمختګ ولاړ دی، څو وګړي وکولای شي د هیواد په بنسټیز پرمختګ، اقتصادي ودې، ثبات او امنیت کې کارنده ونډه واخلي.

د یادو هیلو د پوره کولو لپاره د پوهنې وزارت باید په یوه نوي، اغیزمنه، شتمنه او حساب ورکوونکې اداره بدله شي، څو د هیواد ماشومانو او لویانو ته له هر ډول نابرابري او تبعیض پرته لازم روزنیز شرایط برابر کړي.

## زموږ علمي او ښوونيز رسالت

پوهنه دالله پاک په سترو او زيات ارزښت لرونکو نعمتونو کې راځي ، ځکه پوهنه اوعرفان د ځان او دخدای پاک جل جلاله دمعرفت يوازينۍ لاره ده، چې د اسلام سپيڅلي دين د لازمي عبادتو په څير پر هر نارينه او ښځينه مؤمن مسلمان فرض ګرځولې ده.
اولوالامر د هرې ټولنې د پوهنيز پرمختګ له پاره د شرايطو پر چمتو کولو مکلف دي، چې پر همدغې لارې، دنړۍ پرمختللي قومونه دانساني عروج مدار ته رسيدلي دي او د ښيرازه چاپيريال او هوسا ژوندانه څخه برخمن شوي دي.
افغانستان د نورې نړۍ په څير د معاصر پوهنيز نظام تر پيړيو پيړيو اوږده مخينه نه لري، بلکې دغه هېواد په نولسمه پيړۍ کې د معاصرې ښوونې او روزنې بهير ته ورننوت، چې کابو څه دپاسه يوه پيړۍ يې بللای شو.
د ١٣٥٧روسانو پرخلاف وسله وال پاڅون او جهاد او ترهغې راوروسته ١٣٧٢ - ١٣٨٣ کال پورې خپلمنځيو کور ورانوونکو جګړو، زموږ د پوهنې د نظام څرنګوالی تر پوښتنو لاندې راووست او په دغه اوږد زماني واټن کې، زموږ په زرګونو بچيان د غير مستقرو او بيړنيوشرايطو او دکډوالي ژوند او کمزوري اقتصاد له امله، د پوهنې له کاروانه شاته پاتې شول او دغې لړۍ د سولې او پرمختګ په ټکني کولو کې دسياسي بحرانونو څخه کمه ونډه نه ده لرلې.
دهيواد د نوي اساسي قانون له مخې، پوهنه د هر افغاني تبع حق بلل شوی او دولتونه مکلف ګڼل شوي، چې د بهترې زده کړې شرايط ورته چمتو کړي د افغانستان د اساسي قانون په اوولسمه، دري څلوېښتمه، څلورڅلوېښتمه، پنځه څلوېښتمه، شپږڅلوېښتمه او اووه څلوېښتمه مادوکې د درج شوو حکمونوپر بنسټ د پوهنې د پراخيتا او پرمختيا اصل په خورا تاکيد او وضاحت سره ذکر شوی، (( دولت په بيلابيلو سطحو کې د معارف د ودې او د ديني زده کړو د پراختيا، د جوماتونو، مدرسو او ديني مرکزونو د وضعې د ښه والي او تنظيم لپاره لازم تدبيرونه نيسي . داساسي قانون ١٧مه ماده . )) ، ((زده کړه دافغانستان دټولو اتباعو حق دی، چې دليسانس تر درجې پورې ويړيا د دولت له خوا تأمينيږي. دولت مکلف دی، چې په ټول افغانستان کې د

متــوازن معــارف د عــامولو او دمنځنیو اجباري زده کړو د تـأمین لپـاره اغېزمن پروګرام طرح او تطبیـق کـړي اود مورنیــو ژبــودتــدریس‌لپــاره پــه هڅــوســیموکې چې پرې خبرې کیږي. لاره هواره کړي. داساسي قانون ۴۳ مه ماده)) دپوهنې د تعمیم په اړه داساسي قانون صراحت ته په کتو سره بایددحکومتونوپه تګلاروکې دپوهنې نظام دپاملرنې اوتوجه له پلوه استثنائي ځانګړتیا ولري .

دپوهنې د بهیر پر وړاندې دپرتو خنډونو او ستونزو ګراف لکه (د مسلکي معلم نشتوالی، اداري انضباط کمزورتیا، دتعلیمی نصاب څرنګوالی، تدریسي ودانیو کمښت ، د ښوونکو امتیازات،، ولسي ملاتړ نړیوالو همکاریو، د وړتیاو غوړېدا او نور... ) د پوهنې وزارت د رهبرۍ په پرله پسې زیار او هلو ځلو سره مخ په ځوړ شوې.

دنړیوالو پوهنیزو سیستمونو او نورو ذیدخلو لوریو سره د افغانستان دپوهنې دنظام د اړیکو احیا او ایجاد ، همدا راز په کور دننه د ښوونیزو او روزنیزو پرګرامونو د پراختیا او معیارې کېدو، د ښوونځیو دودانیو او دښوونکو دمسلکي کېدا په برخه کې دپام وړ پرمختګونه رامنځ ته شوي دي او دغه هلې ځلې به تر هغې دوام ولري، تر څو دهېواد بچی بچی او فرد فرد، پرته له هر ډول توپیر او تبعیض څخه معیاری ښوونې او روزنې ته عادلانه لاسرسی ومومي .

دیوې علمي ،منطقي او معقولې ستراتیژۍ له مخې ، په دې ټولو پړاوونو کې دښوونې او روزنې دنړیوالو او افغاني متخصصینو او ماهرینو له تجاربو او پوهې څخه دپام وړ لازمه استفاده رامنځ ته شوې ده ، خو بیا هم د ټولو کوششونو سره سره دپوهنې پرمختیایی بهیر مطلوب پړاو ته نه دی رسیدلی او لا نور کارو زیار ته اړتیا لري، تر څو یې له موجود حالت څخه مطلوب حالت ته ورسو .

دپوهنیز نظام په پراختیا، پرمختیا او معیارې کېدو کې تر ټولو ډېره ونډه دمعیاري نصاب اومسلکي معلم شتون دی،ترڅو وکړای شي د زده کوونکو درسي ستونزې تشخیص او د نویو او مډرنو نړیوالو پوهنیزو معیارونو او میتودونو په کارولو د زده کړو کیفیت لوړ کړي. اما تر اوسه دمسلکي معلم په برخه په ټوله معنا له ستونزو نه یوو خلاص شوي، ځکه دبېلابېلو لاملونو او عواملو پر بنسټ دغه ستونزه شتون لري اوپوهنې وزارت یې دنړیوال

پوهنیز بهیر د مستقیمواو غیرمستقیموهمکاریو دجلبولو اوداستادانو دوړتیاو دلوړلو او دمسلکي کدرونو د روزلو له لارې دحل لازم اقدامات تر سره کړي او ترسره کوي یې.
دپوهنې دکیفیت دبهترۍ په موخه او ددې له پاره چې، دپوهنې په نظام کې د معیاري نصاب د زده کولو او ورزده کولو په برخه کې مطلوب پرمختګ رامنځ ته شي ، د ښوونیزې څارنې او ارزونې عمومي ریاست دنده لري ترڅو د تدریس، معلم، اداري، ودانیو، مسلکي وړتیا، اداري انضباط اودزده کوونکو د استعدادونو د ودې پر وړاندې موجود مشکلات او ستونزې تشخیص او دحل په اړه یې اړوندو ارګانونو ته لازم وړاندیزونه په مخ کې کېږدي او دهغې څارنه او ارزونه وکړي .
په همد ې موخه یاد ریاست د دښوونکو دروزنې ریاست، ښوونیزنصاب، دساینس مرکز، عمومي ښوونې(تعلیمات عمومي)، پلان ریاست او د وزارت رهبرۍ تر منځ دښوونې او روزنې د کیفیت د ښه کېدا اود اړیکو د لا ښه انسجام او اغېزمنتیاپه موخه محوري رول تر سره کوي.
دښوونېزې څارنې او ارزونې د عمومي ریاست د ورزیده کدرونو په مټ کړای شو، چې د تدریس پر بهیر داخلي او بیروني اغېزلرونکي عوامل پیدا او دحل په اړه یې لازم تدابیر ونیسو .
پورته بحث څخه دې پایلې ته رسیږو چې ښوونیزه څارنه او ارزونه د پوهنې دکیفیت دلوړلو منطقي او اغېزمنه لاره ده، چې څارنې هر غړی د زده کوونکو او ښوونکو سره یو ځای درسي بهیر څاري اوپه درسي بهیر کې ارزوونکی او حمایوي نقش تر سره کوي .
د ښوونیزې څارنې او ارزونې د غړیو د دندې اهمیت او ارزښت ته په کتو سره ویلای شو، چې دغه برخه دپوهنې دنظام د نوښت، ابتکار ، معیار او پراختیا تر ټولو ستره او درنه پاژه تر سره کوي.
دښوونیزې څارنې او ارزونې د غړیو له پاره دښوونیزې څارنې او ارزونې د پالیسۍ دبوړه له خوا دغه چمتو شوی لارښود یوه ستره لاسته راوړنه او پرځای اغیزمن او بارزښته کار دی. چې، د ښه او رېښتوني تطبیق پایله یې د پوهنې د نظام پرمختګ او معیاري کېدل بلل کیږي او د همداسې یوې معیاري پوهنې د تعمیم په موخه دپوهنې وزارت فعالینو

په ځانګړي ډول دښوونيزي څارنې او ارزونې دریاست کارکوونکواودهیواد دبچیانو روزونکو او ویاړلیو ښوونکو ته له متعال خدای(جل جلاله) څخه لاډېره متره او ځواک غواړم، چې دچارو په ښه او احسن تر سره کېدا سره ګران هېواد افغانستان د نړۍ سره دپوهې په ډګر کې سیال او برابر کړي دټولو دې کور ودان وي .

داکتر محمد ابراهیم شینواری

د پوهنې وزارت د عمومي زده کړو مرستیال

# لړلیک

د افغانستان د پوهنيز نظام لړليد ....................................................ج

زموږ علمي او ښوونيز رسالت د

سريزه: ..................................................................................1

د تعليمي نظارت ( ښوونيزه څارنې) اهميت: .............................................2

تعليمي نظارت (ښوونيزه څارنه) : ..........................................................4

تعليمي ارزونه: ..........................................................................6

په افغانستان کې د ښوونې او روزنې جوړښت څه ډول دی؟ ................................9

د ښوونکي لپاره د ښوونکي د درس کتنې ګټې .............................................11

د ساينس مرکز رياست ته د ښوونکو د تدريس د مشاهدې ګټې ............................12

د ښوونکي د روزنې رياست ته د ښوونکي د تدريس د مشاهدې ګټې .......................13

د ښوونکو د مسلکي پوهې د کچې په څرګندولو کې د تعليمي نظارت د غړو رول ..........15

د ولايتونو ـ ولسواليو ـ تعليمي حوزو د نظارتي ټيمونو د وړتياوو په هکله د تعليمي نظارت د عمومي رياست رول ..17

رشته يي (مضمون واره) تعليمي نظارت .................................................18

د تعليمي نظارت د غړو لپاره علمي معيارونه .............................................21

د تعليمي نظارت وسايل يا اسباب: ......................................................23

د رشته يي تعليمي نظارت د نظام جوړښت ...............................................24

د رشته يي تعليمي نظارت لارې چارې يا تکتيکونه .......................................25

د رشته يي تخصصي تعليمي نظارت اهميت او اړتيا .......................................26

په يو پروګرام کې اړوند کاري بنسټونه ...................................................28

د تعليمي نصاب د انکشاف رياست لپاره د مشاهدې (کتنې) ګټې ..........................33

د پوهنې وزارت د پلان جوړولو لپاره د تعليمي نظارت ګټې ...............................33

د پوهنې وزارت د داخلي تفتيش لپاره د تعليمي نظارت ګټې .............................35

د ښوونځي د اداري چارو د نظارت څرنګوالی ...........................................36

له تحليلي SWOT ميتود څخه ګټه اخيستنه يا د ښوونځي د واقعي وضعيت موندنه .........40

د تعليمي نظارت د رپوټ ورکولو سيستم او دوران ........................................41

## سريزه:

په هيواد کې د لومړي ښوونځي له جوړېدو بيا د رسمي پوهنيز نظام تر منځته راتلو (له نولسمې پيړۍ څخه بيا تر  يوشتمې پيړۍ تر پيله پورې) نظارت (څارنه) په بيلا بيلو بڼو او دوديزه توګه د هيواد په پوهنيز نظام کې خپل رول تر سره کړې چې زياتره په اداري چارو، د ښوونځيو د اسنادو په کتنې، حاضري او غير حاضري او اخطار او سپارښتنو ولاړ وو ، نه دا چې د بيلا بيلو مضمونونو د تدريس او زده کړې د کيفيت د ښه والي په تړلګيو کې د مختلفو مضمونونو د ښوونکو د درس بهير د دوامدارې ليدنې او کتنې او په ګروپي او انفرادي ډول د هغه  اغيزمنتوب تعقيب او مثبتو پايلو لاسته راوړلو له لارې د ښوونکو او تدريسي پرسونل مستقيمه ننګه او ملاتړ وکړي. له بده مرغه چې د تيرې يوې پيړۍ په اوږدو کې په هيڅ يوه دوره کې هم دې ټکي ته پاملرنه، نه ده شوې.
د هيواد په پوهنيز نظام کې د تعليمي نظارت لارښوونکي رول ته نه پاملرنه او دغه راز د ښوونکو د تدريس ـ زده کړې لارو چارو ته به نه کتو او د ښوونځيو په ادارو کې د ناقصه اجراأتو پر بنسټ د غير مؤثره تګ لارو او ميتودونو کارونه، په تعليمي نصاب کې د شاملو قابليتونو او مهارتونو پر بنسټ د زده کوونکو د زده کړې د کچې تشخيص، د ښوونکو انفرادي او شخصي ستونزو او مشکلاتو پيداکول چې لا تر اوسه هم په ښوونځيو کې د تدريس او زده کړې د کيفيت د ښه والي د لارې خنډ دی، هغه موارد دي چې هيڅ يو ته يې هم لا تر اوسه د حل کومه  سنجول شوې او مناسبه لاره نه ده موندل شوې.

په اوسنيو شرايطو کې له يوې خوا ګڼ شمير زده کوونکي ښوونځيو کې شامليږي او له بلې خوا د کميت او کيفيت تر منځ توازن او په درسي نصاب کې د زده کړې قابليتونو او معيارونو تطبيق ته د نه پاملرنې پر بنسټ د نورمونو او معيارونو رعايت ته په نه کتو سره، له مخکې ټاکل شوې تګلارې پلې کيږي پرته له دې چې په مضمون باندې د ښوونکو د پوهيدو ستونزې او د پوهنيزو پروګرامونو او تګلارو په تنظيم او تطبيق کې د تولګۍ د سم مديريت او تدريس قابليتونه ، نظارت او وځيرل شي. دغه شان اکاډميکو بنسټونو

لکه: د ښوونکو د روزنې اداره، د تعليمي نصاب د انکشاف او تعليمي نظارت ، د ښوونکو انفرادي اړتياوو ته په کتو خپلې تګلارې او پروګرامونه نه دي سره همغږې کړي؛ نو له دې امله د تعليمي نظارت رول او اهميت ته په کتو چې د پوهنيزو تګلارو د سم او مناسب پلي کولو په بهير کې د ستونزو او ننګونو په تشخيص او څرګندولو کې يې لري، اړتيا ليدل کيږي، څو د نويو او تجربه شويو نظريو او نوښتونو په طرحه کولو او د اساسي ستونزو د تشخيص او موندلو د اغيزمنو ميتودونو په را منځته کولو (هغه هم په ټولګې کې د زده کړې او تدريس د بهير د کتنې او د ښوونځيو د ادارو د کړو وړو له مخې) زړو مېړلونو پر ځاي هغه ميتودونه او لارې چارې چې په نتيجه کې د ښوونځيو ښوونکي او تدريسي او اداري پرسونل وکولای شي ټاکلو هدفونو ته په اساني سره ورسيږي او د وزارت د تصميم نيوونکو مقاماتو پاملرنه ورته را وګرځي. ~~د يادونې وړ ده چې دغه ډول نظارت په ازموينو، تجربو، نوښتونو، مرستو، ملاتړ او اصلاح کولو ولاړ دی.~~

## د تعليمي نظارت ( ښوونيزه څارنې) اهميت:

تعليمي نظارت د ښوونې او روزنې د کمي او کيفي وضعيت تشخيص کوونکی محور او هسته ګڼل کيږي، په دې شرط چې د (ښوونکو د روزنې، د تعليمي نصاب انکشاف ، اساسي تعليماتو، تعليمي پلان جوړونې، بشري سرچينو، عمومي زده کړو او تعليمي تکنالوژي يا عملي ساينس اداري) له بنسټونو سره په همغږۍ او تجربو موندنو په شريکولو په يوه لار روان وي او د اکاډميکو مسايلو په حل کولو او خنډونو په له منځه وړلو کې ښه مرستندوی وي.

لکه څنګه چې ادعاء کيږي، تعليمي نظارت د زده کړې د کيفيت په ښه والي کې محوري رول لري، اړتيا ليدل کيږي چې خپل مسووليت او مکلفيتونه په سمه توګه تر سره کړي چې هغه عبارت دي له:

۱ـ د هغو عملي نويو ميتودونو، نظريو او فکرونو طرحه او پلي کول چې د ښوونځي د مديريتي پرسونل او ښوونکو د کړنو د کيفيت د پرمختګ او ښه والي هدفونو له مخې د ښوونې او روزنې متخصيصنو او نظر خاوندانو وړاندې کړي دي.

۲ـ له معارف سره د مينې درلودلو په فرهنګ او د تدريس په بهير کې د زده کوونکو د والدينو شريکول په دې بنسټ چې (باکيفيته ښوونې او روزنې ته مسا ويانه لاسرسی د هر انسان او ماشوم بنيادي حق دی) . د چارو مسوولين مکلف دي چې د ماشومانود ښوونې اوروزنې دوضعيت د ښه والي لپاره ټولنې ته عامه پوهاوی ورکړي.

۳ـ د زده کوونکو په زده کړو دناوړو اغيزو کمول (رواني، محيطي، سلوکې، فزيولوژيکي او ټولنيزې اغيزې).

۴ـ په بيلا بيلو دورو کې د ښوونکو او زده کوونکو تر منځ د تعليم او تعلم د کچې لوړول.

۵ـ د قوانينو، لايحو او مقررو د موادو د سم او پر ځای تطبيق پر بنسټ د ښوونځيو د اداري او تدريسي کړو وړو نظارت کول.

٦ـ د ښوونځيو او په ټولګي کې د ښوونکو د تدريس له کتنې وروسته د اغيزمن، دوامدار او پرله پسې فيډبک وړاندی کول.

۷ـ د نمونوي لوستونو، د مضموني پوهې د لازمو لارښوونو، د تدريس د قابليتونو او په پرله پسې او اغيزمنه توګه د روزنيزو چارو د مديريت د وړاندې کولو له لارې د زده کړو ـ تدريسي ستونزو او مسايلو حل او فصل کول.

۸ـ د غونډو دايرولو په ترڅ، او د تشخيص شويو اړتيا له مخې د لنډ مهاله روزنيزو ورکشاپونو د جوړولو له لارې د ښوونځي د اداري او ښوونکو تر منځ د همکارۍ او مشورو ورکولو د فضا رامنځته کول.

۹- په تدريس او زده کړه کې د ورځنيو ستونزو د حل، تجربو شريکولو او مرستو لپاره «د يوې څانګې يا رشتې د ښوونکو د ټولنې يا اتحاديې» جوړول.

۱۰- د اصلاحي اغيزمنو ميتودونو څخه د ګټې اخيستو او تجربو شريکولو لپاره د نظارتي ټيمونو د غړو تر منځ په بشپړ تفاهم سره د همکارۍ او مرستې د روحيې پياوړې کول.

## تعليمي نظارت (ښوونيزه څارنه) :

په لغوي لحاظ نظارت د نون په کسرې کارول کيږي او ريښه يې (نَظَرَ) ده چې نظر په لغت کې د يو شي يا يو امر د کتنې ، تأمل او تفکر په معنی ده. د المنجد په عربي فرهنګ کې راغلي چې نظارت يو کار ته نظر کول او يا په يو کار کې تفکر او تدبر کولو او د هغه اندازه او قياس کولو ته وايي.

دغه راز نظارت په فارسي فرهنګ عميد کې د ځيرکي، هوښيارتيا او د يو کار د سرته رسولو د څارنې او مراقبت په معنا راغلی دی؛ خو تعليمي نظا رت په اصطلاح کې هغو مسلکي او تخصصي مهارتونو، قابليتونو ته وايي، چې د نظارت د مسوولينو د هڅو له کبله د ښوونې او روزنې د کيفي حالت ښه والی او اصلاح لپاره د ښوونکو او نورو تعليمي او تربيتي کارکوونکو د لارښوونې او هدايت په خاطر کارول کيږي او د تدريس له مؤثرو او بيلا بيلو ميتودونو څخه چې د ښوونکو د حرفوي پرمختګ او ودې، تعليمي هدفونو د ټاکلو او په هغو کې د تجديد نظر کولو، د پوهنيزو موادو کارونې او د هغو د ارزښت موندنې سبب ګرځي د ټولګي او ښوونځي په کچه ګټه اخيستل کيږي.

### د تعليمي نظارت تعريف:

تعليمي نظارت يو شمير سيستماتيکو او سنجول شويو فعاليتونو ته وايي، چې په ټولګي کې د درسي تګلارو اصلاح کول، د ښوونځيو د مديريتي حالت ښه والی، د زده کړې لپاره مناسبه فضا را منځته کول، په تعليمي نصاب کې شاملو مفاهيمو او مفرداتو د

ليږدولو (انتقال) او جذب لوړه کچه، د ښوونکو علمي ښيرازتيا، د منطقي او علمي ستراتيژيک پلان طرحه او د تعليمي سيستم د کيفيت ښه والی پکې شامل وي.

**د تعليمي نظارت اصلي موخه:**

د تعليمي نظارت بنسټيزه موخه عبارت ده له:

۱ـ د ماشومانو او د زده کوونکو سني (عمر) ځانګړتياوو ته په کتو او د هغو د انفرادي اړتياوو د پيژندنې پر بنسټ د يو مضمون د زده کړې اود ښوونکو له خوا د تدريسي ميتود دکارونې د اساسي ستونزو تشخيص او پيژندنه ده .

۲ـ په تعليمي نصاب کې د شاملو معيارونو او قابليتونو له مخې د درسي تګلارې اصلاح کول او د تعليمي پلان سره سم د تعليمي نصاب سم تطبيقول.

۳ـ د نمونه لوستونو د وړاندې کولو او د پوهنيزو فعالو ميتودونو د کارونې له لارې د تدريسي ميتود اصلاح کول يا تغيرول.

۴ـ په تدريس کې د ټولو زده کوونکو د شريکولو، د سوال او ځواب ورکولو، پرځان باور او اعتما د درلودل ، او په ښوونيز چاپيريال کې د تاوتريخوالي د له منځه وړلو په برخه کې د هغو د فعالولو له لارې د زده کوونکو لپاره د زده کړې د شرايطو اصلاح کول.

۵ـ د درسي مرستندويه موادو جوړول اواستعمالول، په تدريس کې د تعليمي موادو او وسايلو د کارونې د لارو چارو لارښوونه او زده کړه.

٦ـ د تدريس په بهير کې له ښوونکو سره هر اړخيزه مسلکی مرسته.

۷ـ د ښوونې او روزنې د کيفيت د ښه والي لپاره د بيلا بيلو فعاله ميتودونو کارونه.

## تعليمي ارزونه:

د لارښوونې، تصميم نيونې، ځواب ورکولو او خبرتياوو د ترلاسه کولو لپاره د تعليمي هدفونو، تګلارو، عملياتو او د هغه د پايلو د ارزښت او اهميت په باب د توصيفي او قضاوتي اطلاعاتو د ټاکلو او برابرولو له بهير څخه عبارت ده.

د تعليمي ارزونې موخه (هدف):

د تعليمي ارزونې هدف د تعليمي نظام د عناصرو (اهميت، مطلوبيت يا وړتيا) په باب قضاوت يا توافق او هغو ځانګړو پوښتنو ته د ځوابونو پيداکول دي چې د قضاوت له ارزښت سره تړاو لري، هغه هم په داسې بڼه چې تعليمي ټاکلو موخو ته د رسيدو په لاره کې د فعاليتونو د سرته رسولو د بهير د ښه والي لپاره، له لاسته راغلو پايلو سالمه ګټه پورته شي.

<u>د تعليمي ارزونې له ميتود څخه د ګټې اخيستنې ځايونه:</u>

د پوهنې په نظام کې د تعليمي ارزونې له ميتود ونوڅخه په دوه لاندې برخو کې ګټه اخيستل کيږي.

### الف: د ښوونکي د پوهې او مهارت د کچې د اړتيا معلومول :

د تعليمي نظارت لوی رياست د ارزونې اصولو ته په کتو سره هوډ لري، چې په علمي وسايلو د ښوونکو د تدريسي مهارتونو او مسلکي پوهې کچه اندازه کړي او د ښوونکو د ميتوديکي ستونزو د له منځه وړلو او علمي وضعيت د ښه والي لپاره اړونده رياستونو او بنسټونو سره په اړيکه کې اوسي، څو د ستونزو د له منځه وړلو او مشکلاتو د حل کولو په لاره کې په خپل وخت عمل وکړي.

**ب: د زده کوونکو د فکري، سلوکي ـ رفتاري ودې څرګندونه:**

د تعليمي نظارت لوی رياست د علمي اصولو او قواعدو پر بنسټ غواړي چې د ښوونکو د کړو وړو د نظارت لپاره د علمي وسايلو له لارې د زده کوونکو فکري، سلوکي او زده کړې کچه معلومه او وټاکي ، چې دغه اندازه کول او ټاکنه د هغو معيارونو له مخې تر سره کيږي چې په لاندې تعريف شوی دی.

**زده کړه:**

دغه کليمه د انګريزی (Instructions) معادله کليمه ده ، او د ښوونې په معنا استعماليږی، چې د دهخدا په لوي فرهنګ کې د ورزده کولو، پوهولو، زده کولو، پوهيدلو او بل چا ته د يو څه ورزده کولو او پوهولو په مانا راغلې، خو زده کړه، تعليم يا پوهنه اصطلاحاً هغه هڅه او کوښښ دی چې ښوونکی يې زده کوونکو ته د پوهنې او خبرتياوو د ليږدولو لپاره تر سره کوي.

**د ښوونې او روزنې مهم توکي (عناصر):**

۱ـ د ښوونې او روزنې ~~بنسټيز رکن~~ : د ښوونې او رزونې اصلي او اساسي رکن، زده کوونکي دي چې د هغوی ذهني فعاليتونه او باالقوه ځواک بايد وپيژندل شي او دهغو له اړتياوو لازمه خبرتيا تر لاسه شي.

**۲ـ د ښوونې او روزنې موخې (هدفونه):**

هغه ټاکل شوي مطلوبې پايلې او شرايط دي، چې هيله کيږي د ښوونې او روزنې په بهير کې په ښوونکو او زده کوونکو کې را منځته شي.

**۳ـ پوهنيزه منځپانګه او تلګلاره:**

له معلوماتو، خبرتياوو، علومو، فنونو او پوهنو څخه له ډېکو مفاهيمو او مضامينو څخه عبارت ده، چې زده کوونکو ته وړاندې کېږي تر څو پوهنيزو چارو ته د هغوی ورننوتل او اجرايي موخو ته د هغوی رسيدل شوني او ممکن کړي.

**۴ـ پوهنيز ميتودونه (لارې - چارې) :**

هغه فعاليتونه، شرايط او لارې - چارې چې درسي پروګرام او منځپانګې (محتوا) ليږد شونی او اسانه کوي.

**۵ـ د ښوونې او رزونې اصول او بنسټونه:**

د هغو شرايطو، کړنو او نه کړنو مجموعې ته وايي چې د ښوونې او روزنې د فعاليتونو څرنګوالی ټاکي.

**٦ـ د ښوونې او روزنې پړاوونه:**

له زوکړې (تولد) څخه د عمر تر پايه پورې د انسان د ودې هغو پړاوونو ته وايي، چې د ودې لومړي پړاوونه په ځانګړې توګه د ساتنې، ادب او تعليم ښودلو دوره پکې په خاص عنايت شامل دي.

۷ـ تربيتي (روزنيز) کارکوونکي:

ټول هغه عوامل او انساني ځواکونه چې د ماشوم په ودې او تکامل کې اغيزمن دي او ټاکلی رول تر سره کوي لکه: (ښوونکی، والدين او همزولي) پکې شامل دي.

**۸ـ د زده کړې فضا:**

هغه شرايط او اسانتياوې، چې ښوونيزو او روزنيزو موخو ته د رسيدو لارې - چارې اسانه او چټکې کړي.

### ۹ـ قوانين او مقررات:

د ضوابطو او قوانينو هغې مجموعې ته وايي، چې د تربيتي پايلو او فعاليتونو پرڅرنګوالي ولاړ دی، او اعتباري اغيزه لري.

### ۱۰ـ مديريت او جوړښت:

تشکيلات، د رهبري او مديريت ډول چې تعليمي فعاليتونه ټاکي او لوری ورکوي.

### ۱۱ـ نورې سرچينې:

هغه عوامل چې د ښوونې او روزنې د فعاليتونو سرته رسولو او پيل کولو ته شرايط برابروي. لکه: چاپيريال، امکانات ....

## په افغانستان کې د ښوونې اور روزنې جوړښت څه ډول دی؟

دي ته په پاملرنې سره چې زموږ هيواد د دريمې نړۍ له هيوادونو څخه ګڼل کيږي، بې له شکه چې مسايل او موضوعات دلته معياري نه دی او د ښوونې او روزنې په بهير کې د اغيزمنو عناصر د معياري کولو لپاره وخت ته اړتيا ده؛ نو له دې امله زموږ په هيواد کې لا تر اوسه دوديزه تعليمي او تربيتي سسيټمونه شته والی لري، چې په ټوليزه توګه ويلای شو په افغانستان دوديز او غير دوديز سيټمونه شتون لري.

### ۱ـ د غير رسمي پوهنيز نظام جوړښت:

دغه ډول سيستم چې له ډېرې پخوا زمانې راهيسې په اسلامي هيوادونو، په ځانګړې توګه په افغانستان کې مروج دی، زياتره په جوماتونو او ممبرونو کې د ديني عالمانو له خوا پر مخ بيول کيږي، په دغه ډول پوهنيز نظام کې هيڅ ډول منظم نصاب او سلسله مراتب شتون نه لري؛ خو زيات اغيزمن دی.

### ۲ـ د رسمي پوهنيز نظام جوړښت:

د هیواد رسمي پوهنیز نظام چې د متمرکز سیستم په توګه اداره کیږي په بیلا بیلو کچو جوړ او طرحه شوی دی.

**الف: لومړنۍ دوره:**

دغه دوره چې د هیواد په رسمي تعلیماتو کې تر ټولو لومړنۍ دوره ګڼل کیږي له لومړي ټولګې څخه تر شپږم ټولګې پورې د ځانګړي نصاب په درلودلو سره د پوهنې وزارت د متخصیصینو له خوا طرحه او تنظیم شوې ده.

**ب: منځنۍ دوره:**

دغه دوره د هیواد په رسمي تعلیمي نظام کې دویم پړاو ګڼل کیږي له ۷ ټولګې څخه تر ۹ ټولګې پورې غځیدلې چې د ځانګړې نصاب په درلودلو سره ځانګړې تشکیلاتی جوړښت لري.

**ج: ثانوي دوره:**

دغه دوره د هیواد په پوهنیز نظام کې دریم پړاو دی چې له ۱۰ ټولګې څخه تر ۱۲ ټولګې پورې غځیدلې ده، چې د سلسله مراتب، رپوټ ورکولو او رپوټ اخیستلو جوړښت یې په لاندې ډول دی:

۱ـ پوهنې ریاست
۲ـ تدریسي آمریت
۳ـ د پوهنې آمریتونه
۴ـ د لیسو آمریت
۵ـ سر ښوونکي
٦ـ ښوونکي

## د ښوونکي لپاره د ښوونکي د درس کتنې ګټې

دې ټکي ته په پاملرنې سره چې ښوونکي په پوهنيز نظام کې يو اغيزمن او مهم عنصر دی؛ نو له ښوونکي سره په ټولو ښوونيزو او روزنيزو ډګرونو کې مرسته او اړيکې ساتل د يو باکيفيته پوهنيز نظام د جوړولو په لور يو ستر ګام ګڼل کيږي.

د تعليمي نظارت لوی رياست د پوهنې د کيفيت د ښه والي په ډګر کې يو مرستندوی بنسټ دی، چې کولای شي په لاندې مواردو کې له ښوونکو سره مرسته وکړي:

۱ـ د ښوونيزو موخو د لاسته راوړلو په برخه، له ښوونکو سره مرسته

۲ـ (له پلان سره سم) د غوره تدريس په برخه کې له ښوونکو سره مرسته

۳ـ د ښوونکو سره د تدريس د ميتود د ښه تطبيق په برخه کې مرسته (ښوونيز ميتود)

۴ـ د تدريس په بهير کې له ممد و درسي موادو څخه د اغيزمنې او سمې ګټې اخيستنې په برخه کې له ښوونکو سره مرسته

۵ـ له ښوونکو سره مسلکي مرستې

٦ـ له موضوع سره سم د ښوونکو د درسي ستونزو په پيژندنه او دهغو په حلولوکې له هغوی سره مرسته.

۷ـ د ښوونکو سره د هغوی د درسي ستونزو د حل کولو په برخه کې مرسته.

۸ـ د درسي ستونزو د حل لپاره د عملياتي طرحې يا اجرا په برخه کې له ښوونکو سره مرسته

۹ـ له زده کوونکو سره د متقابل احترام او حسنه حرفه يي اړيکو د ساتلو په برخه کې له ښوونکو سره مرسته

۱۰- له ښوونکو سره مرسته کوي، څو په موضوع بشپړ بر لاسى وي او خپل ځان و ارزولای شي.

۱۱- له ښوونکو سره مرسته کوي چې د موجود او مطلوبو شرايطو تر منځ د خلا د ډکولو لپاره ګټورې، سالمې خبرې - اترې وکړي.

۱۲- د زده کوونکو د فردي تفاوتونو د ټاکلو او موندلو په برخه کې له ښوونکو سره مرسته کوي.

## د ساينس مرکز رياست ته د ښوونکو د تدريس د مشاهدې ګټې

معارف د يو تعليمي سيستم په توګه د عناصرو او اجزاو لرونکی دی، چې بې شکه هر رياست د پوهنې د نظام په اډانه کې يو مهم عنصر بلل کيږي، د دغو رياستونو له ډلې څخه يو مهم د ساينس مرکز رياست دی. د ګډو مرستو د اصل پر بنسټ کولای شو د معارف وزارت د رياستونو او نظارتي سيستم تر منځ ګډ کاري ټکي بيان او وځيړو: چې دلته زموږ اشاره د ساينس مرکز رياست ته ده.

۱- په ولايتونو کې د لابراتوارونو لپاره د وړ او مناسب ځای د شتون او وضعيت په باب د ساينس مرکز ته خبر ورکول.

۲- د تجربو د سرته رسولو د علمي لارو- چارو او لابرانت ښوونکي د تعليمي کچې په باب د ساينس مرکز ته خبر ورکول.

۳- په ښوونځيو کې د ممدو درسي موادو د کمبود او نشتوالي په ګوته کول چې د ساينس مرکز له خوا برابريږي.

۴- په لابراتوارونو باندې د اړتيا وړ موادو په خپل وخت او منظم وبش په هکله ډاډ ورکول.

۵- په دې باب خبر ورکول چې وېشل شوي مواد په سمه توګه کارول شوي او که نه

۶ـ د لابراتوارونو په باب د ليکل شوي لارښود کتاب څخه د ګټې اخيستنې په باب خبر ورکول.

۷ـ د ساينس د څانګو د ښوونکو لپاره په خاصه توګه د هغو معلمانو لپاره چې مرستې ته اړتيا لري، د ساينس د مرکز له خوا د لنډ مهاله روزنيزو پروګرامونو جوړول.

## د ښوونکي د روزنې رياست ته د ښوونکي د تدريس د مشاهدې ګټې

د يوې مسلکي او سيستما ټيکې کتنې له مخې ويلای شو چې د ښوونکي د روزنې رياست، د مسلکي کادرونو د روزنې په خاصه توګه د تدريس په برخه کې ځانګړې دنده په غاړه لري تر څو د هيواد د پوهنې د کيفيت په لوړلو کې يو اغيزمن ګام اوچت کړي. نو له دې امله د تعليمي نظارت رياست او د ښوونکي د روزنې رياست د پوهنې وزارت د دوه مهمو عناصرو په توګه کولای شي د شته وضعيت د ښه والي او مطلوب حالت ته د رسيدو لپاره ګډه تګلاره وړاندې کړي.

د ښوونيزې څارنې ټيمونه به پدې باب لاندې مالوماتونه راغونډ او نوموړې رياست چاروا کوته وړاندې کړی:

۱ـ په دې اړه معلومات مونډل چې د هيواد تعليمي سيستم په کومو څانګو کې کادرونو ته اړتيا لري

۲ـ په دې اړه معلومات وړاندې کول، چې د تدريس شته ميتودونه د کومو ستونزو د حل کولو وړتيا نه لري.

۳ـ د هغو تکړه ښوونکو مونډل او تشخيص کول چې يو کلستر ولسوالي او آن ولايت د ښوونځيو په کچه د ښوونکو لپاره د علمي سيمينارونو په جوړولو کې د ښوونکو د روزنکې رول لوبولای شي.

۴ـ په دې باب ډاډ ورکول چې پلې شوې تګلارې تر کومې اندازې د هیواد په ښوونځیو کې د تعلیمي مسایلو پر کیفیت اغیزه کړې که نه؟

۵ـ په دې باب خبرتیا تر لاسه کول چې د ښوونکو لارښود کتابونه تر کومه بریده د ښوونکو د کړنو او عمل سبب ګرځیدلي دي.

٦ـ د هغو علمي برنامو د پایلو او اغیزو وړاندې کول، چې د ښوونکي د روزنې د مربیانو او د ښوونکو د روزنې د همکارو ادارو له خوا د ښوونکو لپاره جوړې شوې دي

۷ـ د اړونده څانګو له مخې په ښوونځیو کې د ښوونکو د تدریس د مشاهدې له لارې د ښوونکو د علمي کچې د ودې لپاره د ځانګړو برنامو د طرحه کولو وخت موندنه.

۸ـ د ښوونکو د تدریس د مشاهدې له مخې په ښوونځیو کې د بیلا بیلو څانګو د ښوونکو کمبود ته په کتو د محصلانو جذبول او روزل، په هغو څانګو کې چې په ښوونځیو کې زیاته اړیتا ورته لیدل کیږي.

## د ښوونځي ادارې ته د ښوونکي د تدریس د کتنې (مشاهدې) ګټې

دا چې نظارت په ښوونځیو کې تر سره کیږي او ښوونځي او د ښوونځي مدیریت ورځخه اغیزمن کیږي نو له دې امله ویلای شو چې ښوونځي او د ښوونځي مدیریت ته یې ګټه څومره ده.

۱ـ د ښوونځي له ادارې سره د ښوونکو د (پوهنیزو او سلوکي) نیمګړتیاوو شریکول.

۲ـ د تعلیمي نصاب د تطبیق او ربنتیني کولو د کچې په باب خبرتیا تر لاسه کول

۳ـ په دې باب خبرتیا تر لاسه کول، چې موجوده پلان تر کومه بریده ځواب ویونکي او اغیزمن دی.

۴ـ د ښوونکو د مسلکي تدریس د بهیر په باب خبرتیا او معلومات تر لاسه کول

۵ـ د زده کوونکو د علمي کچې په اړه د معلوماتو شریکول

٦ـ د ښوونځي اداري ته د ښوونکو له لارې د ممدو درسي موادو د موجودیت او استفادې په اړه معلومات ورکول

۷ـ په ښوونځیو کې په بې نظمیو باندې د اغیزمنو عواملو په باب د خبرتیاوو تر لاسه کول او په اړه یې لازم اقدامات ترسره کول

۸ـ په ټولګي کې د ښوونکي د مدیریت په باب خبرتیا تر لاسه کول

## د ښوونکو د مسلکي پوهې د کچې په څرګندولو کې د تعلیمي نظارت د غړو رول

په هیواد کې د تعلیمي نظارت مخینې ته په کتو سره چې د څارنې او پلټنې بڼه یې درلوده یعنې په دې مانا چې مسلکي او رشته یي بڼه یې نه درلوده؛ خو نن د پوهنې وزارت د متخصصینو د هڅو او هلو ځلو په پایله کې په دې وزارت کې د تعلیمي نظارت په نوم یو بنسټ جوړ شوی، چې په مسلکي او رشته یي توګه د نظارت په اصلي مفهوم کار کوي او کولای شي د معارف د کیفیت په لوړولو کې کارنده رول ولوبوي.

### ۱ـ میتودیکي مسایل:

د تعلیمي نظارت غړي کولای شي د میتودیکو مسایلو په باب د ښوونکو میتودیکی مهارتونه و ارزوي، اندازه یې کړي او د ښه والي لپاره یې مرسته وکړي.

### ۲ـ د مسلکي او مضموني پوهې مسایل:

په دې برخه کې د تعلیمي نظارت غړي د هغې مسلکي پوهې له مخې چې لري یې کولای شي، چې د ښوونکو د مسلکي او مضموني پوهه اندازه او وارزوي.

### ٣ـ سلوکې مسایل:

د تعليمي نظارت غړي د دې توان لري، چې په خپلو کړنو سره داسې فضا را منځته کړي، چې د زده کړې بهير يکې په منطقي توګه تر سره شي په دې مانا چې په ښوونځيو کې ښوونيزه فضا نوره بايد ظالمانه نه وي څو هر زده کوونکی وکولای شي په انساني لوړې روحيې سره خپله زده کړه وکړي او د ښوونکو او زده کوونکو تر منځ اړيکې بايد انساني، عاطفي او په مينه ولاړې وي.

## د زده کوونکو د پوهې د کچې په معلومولو کې د تعليمي نظارت د غړو رول

په دې برخه کې پوهنيزو چارو ته په کتو سره، دا چې زده کوونکي په پوهنيز نظام کې ډېر مهم عناصر او د زړه ستنه بلل کيږي د پوهنې وزارت هڅه کړې چې د ښوونې او روزنې په نوموړي اصل باندې زيات لګښت وکړي؛ نو له همدې امله يې د پوهنې وزارت په اداره کې د تعليمي نظارت د عمومي رياست په نامه بنسټ را منځته کړ، دغه اکاډميک بنسټ کولای شي د زده کوونکو د زده کړې د لارو - چارو او مهارتونو د تشخيص په لاره کې هڅه وکړي او په بيلا بيلو او مرتبطو حوزو کې د نظارت د غړو د رول د اداکولو په باب طرحې وړاندې کړي.

### ١ـ د زده کړې حوزه :

د تعليمي نظارت غړي خپلو دندو او مسووليتونو ته په پاملرنې سره کولای شي، چې د اړوندو بنسټونو په مرسته په ټول هيواد کې د زده کوونکو لپاره يو شان او برابره پوهنيزه فضا را منځته کړي، څو د موادو او نظر وړ موضوعاتو جذب او ليږدونه په منطقي بڼه تر سره شي.

### ٢ـ ټولنيزه حوزه:

د ټولنيزو تعليمي بنسټونو تر ټولو ډېر مهم کار د زده کوونکو اجتماعي روزل دي چې د تعليمي نظارت رياست په ښوونځيو کې د مناسبې ښوونيزې فضا په را منځته کولو سره

کولای شي، چې له زده کوونکو سره په ټولنيز ژوند کې يو د بل په زغملو کې مرسته وکړي او دغه را ز د ښوونځي له اداري، ښوونکو او د ټولنې له افرادو سره د تعليمي معيارونو سره سم روابط تأمين او تعليمي نافذه مقررو په پلي کولو او سمسورلو کې ونډه واخلي.

### ۳ـ د ذهني ودې حوزه:

د تعليمي نظارت غړي د ور شرايطو په برابرولو او علمي معيارونو پر بنسټ د روابطو په را منځته کولو سره کولای شي چې ښوونکي، زده کوونکي او د پوهنې د نظام لارويان په ځان متکي کيدو چې د ذهني ودې يوه بنه ده، ملاتړ وکړي.

## د ولايتونو ـ ولسواليو ـ تعليمي حوزو د نظارتي ټيمونو د ورتياوو په هکله د تعليمي نظارت د عمومي رياست رول

دا چې افغانستان ۳۴ ولايتونه او ۳٦٥ ولسوالۍ لري او هر يو يې ځانته يو اداري واحد ګڼل کيږي او په هر اداري واحد کې دوه يا درې نظارتي ټيمونه فعاليت لري؛ نو د يادو نظارتي ټيمونو مسلکي کول او معياري کول د تعليمي نظارت د عمومي رياست ستري موخې جوړوي، څو له دې لارې (د معارف د کيفيت د لوړلو) هدف ته چې په ستراتيژيک پلان کې يې وړانديز شوی دی ورسيږي.

پورتنيو موخو ته د رسيدو لپاره د تعليمی نظارت غړي په هيواد کې د نظارت د بهير د عملي کيدو لپاره کولای شي لاندې په ګوته شوی رول ادا او تر سره کړي:

۱ـ د مسلکي نظارت د غړو تشخيصول او له هغو سره د علمي او نظارتي تجربو شريکول.

۲ـ د نظارت د غړو د علمي ښيرازتيا لپاره په مرکز او ولايتونو کې د ورکشاپونو جوړول

۳ـ په علمي توګه د ښوونځيو د نظارت او ارزونې لپاره د نظارتي پلانونو جوړول

۴ـ هر ټيم ته د نظارتي لايحو، مقرراتو او وسايلو ليږدول

۵ـ د تدريس او نظارت د نويو ميتودونو شريکول او ليږدونه

٦ـ د مخکې ټاکل شوې تګلارې د تطبيق او رښتنې کولو لپاره د اړيکو ټينګول

۷ـ د نظارتي ټيمونو د کړنو او سر ته رسولو کارونو ارزونه او هر ټيم ته د هغه د غبرګون رسول.

۸ـ د ولايتي ټيمونو د رپوټ څيړنه او د نظارت په بهير کې د اغيز لرونکو ټکو په ګوته کول او له ولايتي ټيمونو سره د څيړنو د پايلو شريکول.

## رشته يي (مضمون واره) تعليمي نظارت

رشته يي نظارت چې د مضموني نظارت په نوم هم ياديږي، د ښوونې او روزنې په نظام کې يو نوی سيستم دی، په دې سيستم کې دواړه خواوې (ښوونکي او نظارت کوونکي) د خپلې رشتې يا څانګې له مخې ګمارل کيږي.

ښوونکي مسووليت لري، څو د خپل مضمون سره سم تدريس وکړي. دغه نظارت کوونکي يوازې کولای شي ټولګې تر کتنې (مشاهدې) لاندې ونيسي چې په هغه کې د څانګې يا رشتې مطابق تدريس کيږي که نه؟

رشته يي نظارت کوونکي له پيداګوژيکي موضوعاتو او خپلې رشتې پرته حق نه لري د نورو مضمونونو ښوونکي نظارت وکړي.

### د رشته يي تعليمي نظارت مفهوم:

- تعليمي نظارت هغه پروګرام شوې سيستماټيک عمل ته وايي، چې د مسلکي او تخصصي وړتياوو او قابليتونو لکه: (د تدريس قابليتونو، د زده کړې فعالو ميتودونو، پر مفاهيمو سربيره مضموني پوهې او د ټولګې او ښوونځۍ مديريت) له مخې هغه ستونزې او ننګونې چې د زده کړې او تدريس په وړاندې شتون لري د بيا کتنې، مشاهدې او څيړنې له لارې تحليل، تشخيص او پيدا کړې او

دزه کړې او تدريس د کيفيت د ښه والي، د تعليمي نصاب د بډاينې د ښوونکو د روزنې او د هغه د اړونده بنسټونو د پروګرامونو د اصلاح کولو لپاره د مشورو لارښوونو، هدايت او روزنيزو ورکشاپونو، نمونه وي درسونو له لارې يې د حل لپاره هڅه وکړي او بدلونونه په منظم ډول وڅاري.

- تعليمي نظارت هغه مهارت دی، چې د ښوونې او روزنې په ځانګړې توګه د تدريس او زده کړې ټولې اړونده چارې تر څارنې لاندې نيسي او هغه عبارت دي له: ښوونکي، زده کوونکي، د درسي مفرداتو له کتاب، د زده کړې له موادو، د زده کړې له چاپيريال د تدريس له ميتودونو، مضموني پوهې او د ټولګي او ښوونځي له مديريت څخه.
- تعليمي نظارت د هغو هدف لرونکو او پروګرام شويو فعاليتونو ټولګې ته وايي، چې د تدريس او زده کړې د اصلاح، ښه والي او کيفيت لوړولو په موخه را منځته کيږي. نظارت له ښوونکو او د ښوونځي له اداري سره يو مرستندويه، ملا تړې. پلټونکي او دوامداره او همدغه راز د زده کړې د پروګرامونو او لارو- چارو د بيا ، بيا نوي کولو لپاره انګيزه ورکوونکي، په تدريس کې د درسي ممدو موادو د کارولو تشويق کوونکې، د زده کوونکو د زده کړې د منظمې او اغيزمنې ارزونې د امکاناتو برابرونکې، په تدريس کې د زده کوونکو د شريکولو او په پای کې د ښوونې او روزنې د نظام د کيفيت د لوړولو لپاره په لارښوونو برسيره د ښوونځي د پروګرامونو د ودې او پراختيا په ډګر کې د ټولنې د ټولو غړو د فعاله ګډون کولو هڅوونکې عمليه ده.

**په تعليمي نظارت کې نظارت کوونکي لاندې قدمونه پورته کوي:**

- د ښوونکو او زده کوونکو د زده کړې او تدريسي ستونزو حل کول
- د فعالو ميتودونو څخه په ګټې اخيستلو سره د زده کړې او تدريس د بهير اصلاح کول او د جسمي، رواني او سلوکی وضعيت له مخې د زده کوونکو د انفرادي اړتياوو معلومول.

- د ښوونې او روزنې د کيفيت د لوړولو لپاره د ښوونکو د سلوک، کردار او کړنې د ښه والي په ډګر کې مرسته کول.
- د شاګرد محوري ميتود له لارې د ناسمې زده کړې د اغيزمنو عواملو کمول او د دوديز هر ډول تاوتريخوالي مخنيوی.
- د مديريتي سالمو ميتودونو په کارولو د وخت د ضايع کيدلو مخنيوی.
- د مناسبو وسايلو د ميتودونو په کارولو د زده کړې د پايلو لوړول او په زړه پورې پوهنيزې فضا را منځته کول.
- د زده کړې د کيفيت ساتنه او پالنه او په ښوونځيو کې د اداري او تدريسي پرسونل د عملونو څارنه.
- د زده کړې او تدريس د بهير د لا ښه والي لپاره د نوښتونو، نوی فکر او نويو لارو چارو موندل.
- د ښوونکو د رشته يي اړتياوو سره سم د زده کړې د مفرداتو تطبيق او پروګرام کول.

## د رشته يي تعليمي نظارت ستره موخه

- د عمومي تعليماتو په تګلارو کې (په رشتې پورې اړوند) د تعليمي لارښوونکي نظارت د سيستم وده او پراختيا
- د تعليمي لارښوونکي نظارت د اغيزمنو لارو - چارو او وسايلو له لارې د نظارت کوونکو چمتو کول او سمبالول.
- د لمړنيو تر ثانوي دورې پورې د ښوونځيو د کتنې لپاره د ځانګړتياوو ټاکل
- د نظارتي فعاليتونو د رپوټ ورکولو د سيستم پياوړتيا
- د تشخيص شويو اړتياوو له مخې په تدريس او د ښوونځيو په درجه بندي کې د ښوونکو د علمي ستونزو او اړتياوو تشخيص او پيداکول.

## د تعليمي نظارت د غړو لپاره علمي معيارونه

تعليمي نظارت کوونکی هغه چا ته ویل کیږي، چې د تعلیمي نصاب د هدفونو، د عمومي تعلیماتو د ښوونځیو د جوړښت، اوږدمهاله او لنډ مهاله پلانونه، نافذه لوایحو او مقرراتو، د پوهنې قانون د مضمون په اړه مسلکي پوهه، د تدریس د وړتیاوو (میتودولوژي)، د اداري او تدریسي ستونزو د پیژندنې، په ښوونځي او ټولګي کې د ستونزو د له منځه وړلو او د ښوونځیو په تعلیمي او اداري پروګرامونو کې د ټولنې د ورګډولو په باب بشپړه پوهه او معلومات ولري او دغه راز د ورسپارل شویو دندو د سرته رسولو د کنترول او لارښوونې توان او علمی صلاحیت ولري، د تعلیمي پلانونو او د درسي کتابونو د منځ پانګې د پلي کولو، د ښوونکو لارښود کتاب د پلي کولو او د ممد درسي موادو په کارولو سره د ښوونکو او زده کوونکو د پوهې د کچې د لوړولو په ډګر کې پوره او بشپړ مهارت ولري.

تعليمي نظارت کوونکی هغه څوک دی، چې د خپلې رشتې او مسلک سره سم، هم د خپل مضمون، هم د تدریس د میتودونو او هم د تعلیمي نصاب د سترو موخو پر بنسټ د زده کړې او تدریس د پروګرامونو او د زده کړې د فن او مهارت د مدیریت کولو په برخه کې پوره او بشپړ پوهه او معلومات ولري او د تطبیق لپاره یې لارې چارې ومونډلای شي.

تعليمي نظارت کوونکي ته د تعليمي نظارت کارپوه هم وايي؛ نو له دې امله کارپوه باید د تدریسي، مسلکي او تخصصي لارښوونې، څارنې، سازمان ورکول او مشرې او ستونزو په ځانګړې توګه تدریسي ستونزو د له منځه وړلو توان ولري او د پوهې کچه یې لوړه وي.

په مشخصه توګه کولای شو لاندې موارد د نظارت کوونکي لپاره د معیار په توګه په ګوته کړو:

**مسلکي پوهه:**

د رشته يي او افاقي پوهې تولګه ده، چې هر نظارت کوونکي بايد ترې برخمن وي.

- د پوهنې وزارت له قوانينو، مقرراتو او پالیسيو څخه خبرتيا ولري.
- د خپلې تحصيلي څانګې څخه د کار اخيستلو توان ولري.
- په بيلا بيلو شرايطو کې د پوهنيزو او انساني اړيکو د ټينګولو توان ولري.
- د تعليمي نظارت له پاليسي او لايحو څخه خبرتيا او د هغو د پلي کولو توان ولري.
- مخ پر وده هيوادونو کې د دوديز تعليمي نظارت او تدريس له ميتودونو خبرتيا او دهغو د پلي کولو او کارولو توان ولري.

**مهارتونه:**

د هغو فعاليتونو ټولګه ده، چې د زده کړې (تعليم او تعلم) بهير چټکوي، جذب او ليږدونه اسانه کوي؛ نو هر نظارت کوونکي ته پکار ده، چې د علمي او عالي نظارت لپاره لاندې مهارتونه ولري

- د صنفي مديريت د نظارت کولو مهارت
- د تعليمي نظارت له بيلا بيلو ميتودونو څخه د ګټه اخيستلو مهارت
- تعليمي مواد او وسايلو څخه د ګټې اخيستنې مهارت
- له ازمايښتي موادو څخه د ګټې آخيستنې مهارت
- د تعليمي نظارت د موضوعاتو او پروګرامونو د وړاندې کولو مهارت
- ښوونکو او زده کوونکو ته د ګټورو مشورو ورکولو مهارت
- د ښوونکو او زده کوونکو د مسلکي پوهې د کچې د معلومولو مهارت
- په علمي او منطقي ډول د نظارتي وسايلو او ابزارو څخه د کارولو مهارت
- د ښوونکو، د ښوونځيو له مديرانو، والدينو او خلکو سره د مشورتي غونډو د جوړولو مهارت

## مسلکي تجربه:

له هغو فعالیتونو څخه عبارت ده، چې د هیواد په ښوونیزو بنسټونو کې یې افراد د خپلې تحصیلي څانګې سره سم ترسره کوي.

د تعلیمي نظارت د غړو لپاره د ښوونځیو د نظارت لپاره لاندې تجربې اغېزمنې دي

- د تدریس په برخه کې تجربه
- د تدریس پلان جوړولو په برخه کې تجربه
- د تعلیمي مدیریت په برخه کې تجربه
- په ګډه د کارکولو تجربه
- د تعلیمي لارښوونو او مشورو په برخه کې تجربه

## د تعلیمي نظارت وسایل یا اسباب:

د تعلیمي نظارت اسباب یوه ډله معلوماتي او احصایوي فورمونه دي، چې نظارت کوونکي له هغه سره سم د ښوونځي د اداري او مدیریتي چارو او ټولګي د کتنې په وخت کې ټول کاري ډګرونه په پام کې ونیسي او په هغو کې شته معلومات د کارونې د میتود له مخې راټولوي، همدغه معلومات دي، چې د ښوونې او روزنې د کیفیت د ښه والي په برخه کې د اغېزمنو تصمیمونو د نیولو لپاره د تعلیمي نظارت کارپوهانو، د نظارت غړو، اړونده ادارو او د وزارت مشري ته د ورستیو پرېکړو لاره هواروي.

د تعلیمي نظارت د پورتني اصل له مخې د تعلیمي نظارت لوی ریاست د تدریس د نظارت کولو او مشاهدې د بهیر د لا ښه سمون لپاره یو شمیر فورمې ترتیب کړې او په ښوونځیو کې په درې پړاوه کارولو سره، پلې شوې دی. دغه فورمې له ۱ـ٦ ګڼو پورې نومول شوې او د لاندې موخو او معلوماتو لپاره ترې ګټه پورته کیږي.

لومړی فورمه:

د ښوونکي د تدريس د کتنې فورمه

دويمه فورمه:

هغه فورمه ده، چې (په ښوونځيو کې د ثبت شويو زده کوونکو په ټولګې کې حاضرو دايمي غير حاضرو، غير حاضرو، بريالى او ناکامه ، سه پارچه شوی زده کوونکو، سه پارچه راړونکو زده کوونکو) د شمير د ثبت لپاره کارول کيږي.

دريمه فورمه:

هغه فورمه ده، چې له زده کوونکو يا ښوونځي سره د درسي کتابونو د شته والي په باب معلومات په ډاګه کوي.

څلورمه فورمه: احصايوی

پنځمه فورمه: احصايوی

شپږمه فورمه: احصايوی

## د رشته يي تعليمي نظارت د نظام جوړښت

د رشته يي تعليمي نظارت نظام د نړۍ په ډېرو هيوادونو کې د اړونده څانګو تر منځ د ارتباطي پُل په توګه د تعليمي نصاب د بډاينې او پياوړتيا، د درسي ميتودونو او په تدريس کې د ښوونکو د ستونزو د څيړنې، د پوهنې د نظام د تخصصي کولو پر بنسټ د ښوونکو د ظرفيت لوړولو، په بيلا بيلو مضمونونو کې د زده کوونکو د منظمې ارزونې، د اداري سيستم د اصلاح، د غير ضروري کتابونو کمولو، د درسي مفرداتو د سمون او د غير معياري او تکراري متنونو د مشخص کولو، د درسي مفرداتو د ګټور کارولو، د ټولنې

او وخت د اړتیاوو پر بنسټ د زده کړې د پروګرامونو د معیاري کولو، د هدفونو په بنسټ ولاړ دي او نظارت کوونکی او ټول علمي او تخصصي با صلاحیته کسان د برنامه جوړوونکو په توګه په پورته ذکر شوو مواردو کې خپل رول تر سره کوي. د رشته يي تعليمي نظارت نظام جوړښت زيات په تخصص او رشتې ولاړ دی او په بيلا بيلو هيوادونو کې په مختلفو بڼو عمل کوي، په ځينې هيوادونو کې نظارتي سيستم په ډله ييزه توګه چې د تعليمي نصاب ټول مضامين پکې شامل وي، عيارېږي او نظارت کوونکي د خپلې تخصصي، تحصيلي څانګې له مخې ټاکل کيږي.

له مضمونې ـ رشته يي نظارت څخه مقصد دا دی چې د تعليمي نظارت کارپوهان په درسي ټولګي او ښوونځيو کې د خپل نظارت په وخت کې د ټولو ښوونکو، مسلکي او مضموني پوهه، د تدريس قابليت، د زده کړې له موادو څخه اغيزمنه ګټه اخيستنه، د درسي پلانونو جوړول او پلي کول، په ښوونځي کې له شته موادو او اسانتياوو څخه ګټه اخيستنه او اداري چارې چې په تدريس او زده کړه کې بشپړه اغيزه لري، تر نظارت او څارنې لاندې ونيسي، ستونزې، خنډونه، نيمګړتياوې او د ضعف ټکي يادداشت کوي او د هغو د له منځه وړلو او اصلاح لپاره په خپل وخت تخنيکي او مسلکي مرسته ترسره کوي، دغه راز نظارت ته لارښوونکی نظارت هم ويل کيږي.

## د رشته يي تعليمي نظارت لارې چارې يا تکتيکونه

رشته يي تعليمي نظارت زياتره په بيا کتنې (Monitoring) او مشاهداتو يا (Observation) ولاړ دی. دغه دوه ميتودونه وسايلو او لوازمو ته اړتيا لري، چې نظارت کوونکی وکولای شي ټاکلي هدفونه د يو پوښتنليک او يا معلوماتي فورمې په بڼه په ټولګي او ښوونځي کې تر لاسه کړي او خپل يادداشتونه پکې وليکي، بيا کتنه يا مانيټورنګ يو اوږد مهاله بهير دی، چې نظارت کوونکی مکلف دی، چې د خپلو فعاليتونو په اوږدو کې بدلونونه تعقيب کړي او په عينې وخت کې (Feed back) هم لري.

په دې معنی چې نظارت کوونکی باید د بیا کتنې ټول جریان پل په پل تعقیب کړي او ټولې ستونزې، نیمګړتیاوې، ځنډونه او ضعیف ټکي له مقابل لوري سره په داسې یوه آزاده او اصلاحي فضا کې شریک کړي، چې دفاعي او تعرضي جنبه ونلري؛ خو مشاهده چې یو پروګرام شوی عمل دی او ښايي چې د یو پوښتنلیک یا معلوماتي فورمې په بڼه وي، نظارت کوونکي مکلف دي چې د درسي مهالوېش سره سم یو ساعت او یا له هغه څخه لږ څه کم ټول هغه فعالیت چې درسي ټولګي کې د ښوونکي او زده کوونکو له خوا تر سره کیږي، په غوږو واوري او په سترګو يې په ځیر سره وګوري او له درس نه وروسته له ښوونکي سره هغه ټکی چې اصلاح کولو ته اړتیا لري شریک کړي، د ښوونکو د درس مشاهده یو دوامداره او اوږد بهیر دی، چې معلوماتي فورمه يې د نظارت کوونکي له خوا باید د مشاهداتو په بهیر کې ډکه او د ټولو نظارت کوونکو په واک کې ورکړل شي.

## د رشته يي تخصصي تعلیمي نظارت اهمیت او اړتیا

په رشته يي تعلیمي نظارت کې د زده کړې اصلاح او پرمختګ، د پروګرامونو پراختیا، د ښوونکي د سلوک او چال - چلند لوړول، د انساني اړیکو ټینګښت او پراخول او د پوهنې د کیفیت د لوړولو په اړوند ټول فعالیتونه شامل دي اودغه راز د پوهنې د بهیر د اصلاح کولو او ښه والي تر څنګ د ښوونکو او زده کوونکو تر منځ ښې اړیکې او چال - چلند او د ښوونکو د مسوولیت د روحیې پیاوړې کول او د مسلکي او شغلي کچې لوړول هم د یاد نظارت لوړ اهداف ګڼل کیږي. لنډه دا چې نظارت د تدریس د بهیر د اصلاح کولو او پرمختګ لپاره هلې - ځلې کول دی نه د درسي پروګرمونو او دندو په سرته رسولو کې د ښوونکو کنټرولول او د هغو د پوهنیزو وړتیاوو او لیاقت په باب قضاوت کول.

ټول پوهیږو چې د هیواد د تعلیمي نصاب مفردات او مضامین د نصاب د تعلیمي کارپوهانو له خوا د هغه هیواد ملي او دیني ارزښتونو او د خلکو او ټولنې حیاتي غوښتنو او اړتیاوو ته په کتو، ترتیب تنظیم او جوړیږي؛ نو دغه مفردات او مضامین باید د زده

کوونکو د ذهني، جسمي او زده کړې د توان او طاقت سره سم، د اسانه او ساده مفاهیمو، مهارتونو او عامه معلوماتو په کارولو سره دقیق عیار او سمبال شي.

د ښوونکي د روزنې بنسټ د ټولنې له فرهنګي او ديني ارزښتونو سره سم زده کوونکو ته د پوهنيزو مهارتونو او معلوماتو د لیږدولو او د هغه په ذهن او کړو- وړو کې د وړ بدلون د رامنځته کولو لپاره د بيلا بيلو مضمونو د تدريس لپاره ښوونکي روزي او د فعاليت جوګه کوي يې، د عمومي تعليماتو بنسټ د ښوونکو او زده کوونکو لپاره ډاډمنه تدريسي فضا او د زده کړې اسانتياوې برابروي. د ساينس مسلکي او تخصصي مرکز په ښوونځيو کې د زده کړې د بهير د چټکولو او مفاهيمو د ښه انتقال لپاره د تجربو د سرته رسولو ټول امکانات او وسايل برابروي. پوښتنه دا ده چې آيا د بيلا بيلو څانګو ښوونکي کولای شي چې د زده کوونکو له تشخص شويو اړتياوو سره سم خپل فعاليتونه سرته ورسوي؟ آيا ټول ښوونکي کولای شي چې درسي مفردات په مناسبو لارو- چارو (میتودونو) تدريس کړي او دغه راز کولای شي د مضمونونو د موخو سره سم، سمه نتيجه تر لاسه کړي؟ د دې پوښتنو سم او دقيق ځواب د تعليمي نظارت له مسلکي ـ تخصصي غړو سره دی ځکه چې هره ورځ د هر ښوونکي درسي ټولګي ته ورځي د هغو درس ګوري دهغو له ستونزو خبریږي او دهغو نمیګړتیاوې تشخيصوي. د رشته يي نظارت غوښتنه او تقاضا هم همدا ده چې له ښوونکي سره بايد ټولګي کې مرسته وشي او د تدريس او زده کړې بهير په رغنده توګه اصلاح شي.

دا يوه واضحه خبره ده، چې ټول ښوونکي عيني مضمون د زده کوونکو فردي ځانګړتياوو ته په کتو يعني په زده کړې کې د زده کوونکو تر منځ تفاوت او د تنبلو زده کوونکو د اړتياوو د تشخيص له مخې، نشي کولای تدريس کړي، ځکه چې هر ښوونکی د يوې موضوع په باب خپل نظر، برداشت او انګيرنه لري او د مفاهيمو په ليږدونه کې له خپلو معلوماتو او مهارتونو څخه کار اخلي او د زده کوونکو غوښتنې او اړتياوې په پام کې نه نيسي. له بله پلوه زياتره ښوونکي د ټولو مضمونونو درسي متن په يوه ټاکلې بڼه او هغه هم د لکچر، خطابه او اوږدو خبرو په ډول وړاندې کوي . په اوسنيو شرايطو کې

زياتره ښوونکي په درسي مفرداتو په بشپړه توګه واکمن نه دي، له غير فعالو ميتودونو څخه کار اخلي، د زده کوونکو د زده کړې د ارزونې لازم مهارتونه نه لري، زياتره ښوونکي پوځي نظم او انضباط ته ورته مجازاتو باندې باور لري، د دې پر ځای چې زده کوونکو ته په تدريس کې فعاله ونډه ورکړي او هغوي وهڅوي، برخلاف هغوي دا کارنشی کولای .
نو په دې اساس د رشته يي نظارت نظام چې د اړتياوو د پوره کولو او نميګړتياوو د له منځه وړلو پر بنياد ولاړ دی او د اړونده ذکر شويو بنسټونو تر منځ د کاري اړيکو د همکارۍ غوښتنه کوي له ښوونکو سره په دوامداري مرستې او همکارۍ ټينګار کوي.

رشته يي مضموني نظارت چې د يو تشخيص کوونکي او ملاتړ کوونکي بنسټ په توګه د بينا سترګو، ويښ ذهن او څورو غوږو حيثيت لري او په دوامداره توګه په ښوونځيو او ټولګي کې درسي پروګرامونه څاري او تر کتنې لاندې نيسي خپله دنده بولي چې د تدريس د ښه والي لپاره چې پايله يې اغيزمنه زده کړه وي هلې - ځلې وکړي او د تدريس له اغيزمنو ميتودونو څخه په ګټه اخيستو، د زده کړې د موادو په برابرولو او په درسي بهير کې د زده کوونکو د شريکولو په ډګر کې د ټولو ښوونکو ملاتړ او مرستندوی ثابت شي.

## په يو پروګرام کې اړوند کاري بنسټونه

د تعليمي نظارت لوی رياست

د عمومي تعليماتو رياست

د تعليمي نصاب رياست

د ښوونکي د روزنې رياست

د ساينس مرکز رياست

د ولايتونو د پوهنې رياستونه

د ولسوالی د پوهنې آمریتونه

تعلیمي نظارت کوونکي په ښوونځي او ټولګي کې د ښوونکي د درس د نظارت په بهیر کې دغه پنځه اصله په خپل منځ کې د اړیکو درلودلو او لاسته راغلو پایلو له مخې تر کتنې لاندې نیسي او په اړه یې اصلاحي وړاندیزونه او لارې - چارې وړاندې کوي.




د تعلیمي نظارت د غړو د مسلکي قابلیتونو د لوړولو لپاره د اړتیاوو سنجولو میتود

کولای شو د تعلیمي نظارت د غړو مسلکي قابلیتونه په بیلا بیلو میتودونو سره وسنجوو او هغه وسایل او میتودونو چې د دغه مقصد لپاره کارول کیږي په لاندې ډول دي.

۱ـ پوښتنلیک: له پوښتنلیک څه د تعلمي نظارت د مسلکي قابلیتونو د ارزښت په باب د ښوونځیو د مدیرانو، ښوونکو، زده کوونکو او ښوونځي د نورو کارکوونکو د نظرونو د را ټولولو لپاره ګټه اخیستل کیږي.

۲ـ کتنه (مشاهده): د تعلیمي نظارت د غړو د اړتیاوو او مسلکي قابلیتونو په باب د معلوماتو د راټولو هغه وسیله ده چې په یو طبعي چاپیریال کې تر سره کیږي او د ارزونې لپاره یې باید لاندې پړاوونه سرته ورسیږي.

- موضوعات باید د ارزونې هدف ته په کتو سره وټاکل شي.
- د ارزونې د سرته رسولو لپاره باید د مشاهدې (کتنې) ډېر مناسب میتود غوره شي
- د مشاهده کوونکو د تعلیم او تحصیل په باب باید خورا دقت وشي

۳ـ مرکه: د مرکې د سرته رسولو لپاره کولای شو له دوو لارو (میتودونو) څخه ګټه واخلو:

**الف ـ وار له مخې پلان شوې مرکه:** په دې ډول مرکه کې ټول شیان وار له مخه تنظيمېږي او د قابلیتونو او وړتیاوو د سنجولو او اندازه کولو لپاره معیارونه ټاکل کيږي او د همدغو معیارونو له مخې پوښتنې جوړېږي او معلومات را ټولیږي او د قضاوت لپاره وړاندې کيږي.

**ب: غیر پلان شوې مرکه:** دغه ډول مرکه چې مخکې نه وي تنظیم شوې د معلوماتو د راټولولو لپاره له مرکه کیدونکي څخه خورې - ورې پوښتنې کیږي. او معلومات بشپړیږی.

۴ـ د ښوونکي د تدریس، د ښوونځي د اداري او دپوهنې د آمریتونو د مدیریتي میتود په اړه د نظارت کوونکو له خوا د سرته رسیدلې کتنې (مشاهدې) د رپوټونو مطالعه کول.

د پوهنې له نظام څخه څه ډول نظارت کیده؟

د دې لپاره چې نظارت د هر سیستم یو نه بیلیدونکې برخه ده ، نو له دې امله د پوهنې وزارت په چوکاټ کې یې له ډېره پخوا زمانې را په دېخوا په بیلا بیلو بڼو شتون درلود، د پوهنې وزارت په چوکاټ کې د تعلیمي نظارت د لوی ریاست له جوړېدو مخکې تعلیمي نظارت د عمومي تعلیماتو په ریاست کې د یو مدیریت په کچه شتون درلود، چې زیاتره یې د اداري نظارت بڼه درلوده او خپلې ځانګړنې یې لرلې، د پخوانی نظارت یوه ستره نیمګړتیا د هغه غیر رشته یې توب وو چې دا پخپله یو ستر عیب ګڼل کیږي او له بل پلوه د نن ورځې له علمي معیارونو سره سم یې تنظیم شوي ابزار او وسایل نه

درلودل او د وخت له پلوه هم په خاص وخت کې تر سره کيده چې دغه کړنه د نننې عصر سيستم او غوښتنو ته ځواب نشي ويلاى.

د افغانستان د پوهنې په نظام کې څو ډوله تعليمي نظارت حاکم دی؟

که څه هم د تعليمي نظارت بيلول او جدا کول ډېر گران کار دی، خو د پوهنې نظام ته په ځير کيدو سره ويلاى شو چې د پوهنې وزارت په چوکاټ کې هر معينيت ځانته ټاکلى او خاص جوړښت لري چې هر معينيت د نظارت يوه خاصه بڼه د خپلو تعليمي او تربيتي کړنو په اړوند په خپلو کارکوونکو پلي کوي، کولاى شو چې د تخنيکي او مسلکي، اسلامي تعليماتو او حياتي سواد د معينيتونو د تعليمي نظارت يادونه وکړو.

## د زده کوونکو د پوهې د کچې د لوړولو لپاره په تعليمي نصاب کې د شاملو مفرداتو د مفاهيمو او ټاکلو قابليتونو په جذب او ليږد کې د تعليمي نظارت د غړو رول

د پوهنې په سيستم کې د تعليمي نظارت د رياست د جوړولو دليل د پوهنې د کيفيت لوړول دي، چې په هيواد کې د ښوونې او روزنې د کيفيت د لوړولو لپاره بايد علمي او پوهنيز مسايل په سمه او سالمه بڼه جذب او انتقال شي، چې د تعليمي نظارت يوه ستره او مهمه دنده هم همدغه مسئله ده. د تعليمي نظارت غړي د پورتنې هدف د لاسته راوړلو لپاره کولاى شي لاندې ذکر شوی رول ادا او تر سره کړي.

۱ـ د تدريس د اصولو سره د ښوونکو د بلدولو له لارې کولاى شي د موضوعاتو د انتقال بهير چټک کړی.

۲ـ د ښوونيزي سالمې فضا د رامنځته کولو له لارې کولاى شي زده کوونکو ته د موضوعاتو د جذب زمينه برابره کړي.

۳ـ ښوونکو ته د لارښوونکو وسايلو (ابزارو) په برابرولو سره د انتقال بهير چټک کړی.

۴ـ له ښوونکو سره د علمي او مسلکي مرستو له لارې کولای شي د جذب او انتقال په بهير کې ښه والی راولي.

۵ـ په زده کوونکو کې د علمي خود باوري فضا په رامنځته کولو، کولای شي د جذب او انتقال مسئله چټکه او ښه کړي.

٦ـ په تعليمي نصاب کې د نيمګړتياوو د له منځه وړلو له لارې کولای شي دزده کوونکو علمي اړتياوې پوره کړي.

د عمومي تعليماتو د رياست لپاره د تدريس د مشاهدې ګټې

لکه څرنګه چې يې د نامه څخه پوهيدل کيږي، په حقيقت کې د ا رياست په ټول هيواد کې د عمومی زده کړو اصلی مالکيت له دوي سره دي چې هم د ښوونځي اساس او بنسټ ايښودونکی دی او هم د ښوونکو په کړنو او د ښوونځيو په ګډو فعاليتونو باندې يو اغيز لرونکې اداره ده، چې د جوړښت له مخې ټول ښوونځي د عمومي تعليماتو په رياست پورې تړلي دي. خو پرته له کوم شکه د تعليمي نظارت رياست هم چې ټول پروګرامونه يې په ښوونکو او ښوونځيو کې تر سره کيږي، د عمومي زده کړو د پروګرامونو د اصلاح او مشورو ورکولو په برخه کې د نوموړي رياست نږدې مرستندوی دی، چې په لاندې ډګرونو کې کولای شي مرسته وکړي.

۱ـ د هيواد د ښوونځيو د موجوده وضعيت به باب خبرتيا

۲ـ د ښوونځي په نوم په جوړو بنسټونو کې د ښوونکو د علمي او سلوکې وضعيت په اړه خبرتيا

۳ـ په ښوونځيو کې د نظم او دسپلين د ساتلو په برخه کې معلومات ورکول

۴ـ په ښوونځيو کې د مديريتي حالت په باب خبرتيا

۵ـ د ښوونځيو د مديرانو له خوا د لايحو، مقرراتو او طرزالعملونو د پلي کولو په هکله معلومات ورکول

٦ـ په دې باب ډاډ ورکول چې ټول مقررات د زده کوونکو له خوا رعايت کيږي.

## د تعليمي نصاب د انکشاف رياست لپاره د مشاهدې (کتنې) ګټې

د تعليمي نصاب رياست له (لمړنۍ دورې څخه تر ثانوي دورې) پورې تعليمي نصاب د جوړولو او تدوين دنده په غاړه لري، دغه راز د تعليمي نظارت غړي هم په ښوونځيو کې د تعليمي نصاب د تطبيقولو مسووليت لري، او په ډاډ سره ويلای شو چې د تعليمي نصاب څخه نظارت کول به د تعليمي نصاب د جوړونکو لپاره ښه فيډبک ولري:

۱ـ په دې باب خبرتيا چې د هيواد تعليمي نصاب د نن ورځې له اړتياوو سره سم جوړ شوی او که نه؟

۲ـ په دې باب خبرتيا، چې د نصاب پلي کوونکی (ښوونکی) کولای شي جوړ شوی نصاب سم تطبيق کړي.

۳ـ د جوړ شوي نصاب په اړه د زده کوونکو د درک او پوهې په هکله لازمه خبرتيا

## د پوهنې وزارت د پلان جوړولو لپاره د تعليمي نظارت ګټې

پلان او برنامه جوړول د هر مديريت لپاره اساسي اصول ګڼل کيږي، چې هيڅ کار له يو ټاکلي پروګرام او برنامې پرته نه تر سره کيږي؛ نو له دې امله د پوهنې وزارت په چوکاټ کې د اوږد مهاله، منځنې او لنډ مهاله ستراتيژيکو پلانونو د ترتيب او د جوړولو، د پلان د تطبيق د ارزونې او د پلانونو په برخه کې د علمي پروګرامونو د کچې د لوړولو لپاره د پلان عمومي رياست جوړ شوی دی.

د يو علمي او منطقي پلان د جوړولو لپاره د اول لاس  کره معلوماتو ته اړتيا ده، څو د وزارت مشري وکولای شي د ښوونځيو د جوړولو او له لومړنيو ښوونځيو څخه د منځينيو او له منځينيو ښوونځيو څخه ليسو ته د ښوونيزو بنسټونو د لوړولو له لارې د غوره تعليم د شرايطو د برابرولو په برخه کې په ځای پرېکړه وکړي.

د دغو پرېکړو د کولو لپاره مهم اصل د کره معلوماتو درلودل دي. نومورې ټکي ته د پاملرنې له مخې د تعليمي نظارت رياست د ولسواليو لپاره نظارتي ټيمونه چې اووه تنه غړي او يو تن آمر لري جوړ کړی څو د کال په اوږدو کې حد اقل يو ځل د ښوونځيو کتنه وکړي. په دې کتنه کې هغوی د تدريس د ميتود، د درسي کتابونو د شتون، د ښوونکو د شتون، د تخصصي څانګې سره سم تدريس، د زده کوونکو د مجموعي شمير د (دايمي حاضر، دايمي غير حاضر، مؤقت غير حاضر) په تفکيک سره د ښوونځي د مديريت په اړوند معلومات، د ښوونځي د ودانۍ، د پاکو څښلو د اوبو، د لابراتوار، کمپيوټر او کتابتون د شته والي او له هغه د ګټې اخيستلو، د ښوونځي د شورا د شته والي او د هغه د رول په باب دقيق او کره معلومات راټولوي او د ربعوار ريوټ له لارې يې د تعليمي نظارت د عمومي رياست په واک کې ورکوي څو هغه له اړونده ادارو سره شريک او د تعليمي نظام د کيفيت د ښه والي او د ستونزو او نيمګرتياوو د له منځه وړلو لپاره لازمې کړنې تر سره کړي.

پورتنيو ذکر شويو ټکو ته په کتو ويلای شو چې د پلان رياست لپاره د معلوماتو او ارقامو د راټولو يوازينۍ مرجع د تعليمي نظارت ټيم دی چې کولای شي له ټول هيواد څخه د اړتيا وړ معلومات او شميرنې راټولې کړي او د عملي پلانونو د جوړولو لپاره يې د پلان ګذارې رياست په واک کې ورکړي، چې په دغو معلوماتو کې لاندې موارد شامل دي:

۱ـ د ښوونځيو د فزيکي وضعيت په هکله د معلوماتو وړاندې کول

۲ـ په دې باب خبرتيا چې په کومو سيمو کې کولای شو خپل پلانونه په سمه توګه پلې کړو.

۳ـ د سرته رسولو شويو کارونو د اغيزې په باب خبرتيا

۴ـ د ښوونځيو په بيلا بيلو ډګرونو کې د کره ارقامو په باب خبرتيا

۵- خبرتيا د هغو غير معياری ښوونځيو په باب چې په سيمه کې شتون ولری او نور

٦- خبرتيا د هغو کليوالی او چټکو زده کړوټولګيو په باب چې د بوهنې وزارت مرستندويه اداری جوړې کړې دی .

# د پوهنې وزارت د داخلي تفتيش لپاره د تعليمي نظارت ګټې

داخلي تفتيش د هغو ادارو له ډلې څخه دی، چې د تفتيش د قانون د شپږمې مادې له مخې جوړ شوی او له طرحه شوي پلان سره سم د چارو د ښه والي او اصلاح او اړونده لايحې څخه د سرغړونو د مخنيوي په ډګر کې د افغانستان د اسلامي دولت د قوانينو، مقرراتو او مصوبو د پلي کولو لپاره اجراآت تر سره کوي، دغه اداره د تشکيلاتو له مخې مستقيماً د وزارت د مقام تر امر لاندې ده او د وزارت د مقام د حکم له مخې خپلې چارې تر سره کوي د تعليمي نظارت د رياست له جوړېدو مخکې نوموړي رياست د تدارکاتي، مالي او بشري سرچينو د چارو په کتنې او څېړلو برسيره يې د ښوونځيو ليدنه هم کوله څو د ښوونځيو مالي او اداري چارې وڅېړي او د اجراأتو لپاره يې د پوهنې رياستونو او وزارت مقام ته رپوټ ورکړي؛ خو د تعليمي نظارت له را منځته کيدو وروسته د ښوونځيو او تدريس د چارو د نظارت مسووليت د تعليمي نظارت په غاړه ده او له قوانينو، مقرراتو، لايحو او مقاماتو له اوامرو څخه د سرغړونو په باب ټول موارد د داخلي تفتيش دنده او مسووليت په خپل ځای پاتې ده، خو د اجراأتو بڼه يې لږ څه بدلون موندلی دی. کولای شو د داخلي تفتيش لپاره د تعليمي نظارت ګټې په لاندې ډول څرګندې کړو:

- د قانون د مواردو خلاف اجراأتو څرګندول او داخلي تفتيش لپاره د مقدماتي معلوماتو راټولول
- د داخلي تفتيش مسلکي کارکوونکو ته د دې فرصت برابرول، څو نوموړې اداره وکړای شي خپل اساسي فعاليتونه د نافذو مقرراتو او لايحو له مخې تر سره کړي.

## د ښوونځي د اداري چارو د نظارت څرنګوالی

د دې لپاره چې د ښوونځي مديريت او اداري برخه د تدريس په کيفيت، د ښوونکو په تنظيم او هغو پولي او مادي سرچينو په لګښت کې چې د ښوونځي په واک کې ورکړل شوې مستقيمه اغيزه لري، د نظارتي غړو د مسووليت ستر ډګر ګڼل کيږي نظارتي ټيم د ښوونځيو د لاندې اداري فعاليتونو څيړنه کوي.

- ❖ د اجرا شويو سه پارچو د کندې په شمول د اساس د کتاب کتنه
- ❖ د ښوونکو د درسي پلان ليدنه، د رشتې له مخې د ښوونکو ګمارل، د کتابتون شته والی او له هغه څخه ګټه اخيستنه
- ❖ د درسي مکلفيت د عملي کولو په برنامه کې د مدير د پلان مطالعه کول او د اداري او ديپارتمنتونو د جلساتو د کتاب ليدنه .
- په لاندې وسايلو د ښوونځيو د تدريسي ځانګو او اداري سمبالول او ښوونکو او د ښوونځيو اداري ته د مشورې ورکولو او دښووني له ادراې سره د مرستې کولو لپاره د والدينو پاملرنه راجلبول.
- د ښوونځي د شورا شته والی او د ښوونځي اداري او پوهنيز نظام د ملاتړ په برخه کې د هغې رول
- په خصوصي ښوونځيو کې په پورتنيو ذکر شويو چارو برسيره د خصوصي ښوونځيو د جوړولو د مقررې سره سم د جواز د اعتبار، مالي وجهې، د ټکس د حسابونو د تصفيې چارې هم کتل کيږي.

### د ښوونځيو په کچه د زده کوونکو د پوهنيزو معيارونو د واحد ميکانيزم پياوړتيا، تحليل، تطبيق او جوړول

د نظارت عمومي رياست په هيواد کې د پوهنې د کيفيت د ودې او اصلاح لپاره مسلکي افراد او ټيمونه په کار ګمارلي دي او د زده کوونکو د پوهنيزو معيارونو د معلوموللو د يو واحد ميکانيزم د تحليل، پياوړتيا او پلي کولو لپاره د ښوونکو د روزنې، تعليمي نصاب،

ساينس مرکز او عمومي تعليماتو رياستونو څخه د همکارۍ او ملاتړ غوښتنه کوي، څو د ستونزو، نيمګړتياوو او هغو ننګونو چې د پوهنې د نظام په وړاندې موجودې دي، د معلومولو له لارې يو دقيق د اندازه ګيري وړ او عملي ميکانيزم را منځته کړي او د ارزيابي د ټولو اصولو ځاني ارزونې اوځانګړې ارزونې او ټست شويو وسايلو څخه په ګټه اخيستنه په ټولو مضمونونو کې د زده کوونکو د استعدادونو د کچې معلومولو او ټاکلو او تشخيص لپاره ترې کار واخلي څو له دې لارې هم د ښوونکو تدريسي ستونزې په ښه توګه څرګندې شي او هم د زده کوونکو خاصې ستونزې او مشکلات تشخيص شي او د ستونزو او خنډونو له معلوميدو وروسته بايد د هغه د حل او له منځ وړلو لپاره اغيزمن او په موقع سره ګډ اقدام وشي، چې تعقيبول يې د تعليمي نظارت د مسلکي غړو په غاړه ده.

ټولو ته څرګنده ده، چې د هيواد په لرې پرتو سيمو او ولسواليو کې د دولسم ټولګي فارغان او له هغو څخه د ټيټ تعليم لرونکي کسان د ضرورت له مخې د ښوونکو دنده سرته رسوي چې زياتره يې تدريسي ستونزې لري، د تعليمي نظارت لوی رياست په پام کې لري څو داسې يو ميتود وکاروي چې نومړي ښوونکي وکولای شي په يو جوړ شوي کلستر کې د خپلو ستونزو د اوارولو او خپلو نميګړتياوو د پوره کولو لپاره په اونۍ کې يوه ورځ په يو ښوونځي کې سره را ټول شي او په نوبت سره د هغه مضمون چې د تدريس مکلفيت يې په غاړه لري خپل نمونه درس وړاندې کړي. د ټولو مضمونونو د نمونه مشترک او مشورتي درس وړاندې کول او برابرول د تعليمي نظارت د مسلکي غړو له اساسي دندو ګڼل کيږي.

ټول پوهيږي چې د ايکويپ اداري له جوړېدو تر اوسه د ښوونځيو د شوراګانو د پياوړتيا او جوړولو په ډګر کې زيات کارونه تر سره کړي؛ خو د تعليمي نظارت لوی رياست د هغې ژمنې له مخې چې د تدريس او زده کړې د کيفيت د ښه والي لپاره يې کړې ده، باور لرئ چې د ټولنې د فعالو غړو (د ښوونځي شورا) د ګډون او ونډې پرته نشو کولای هغه تغيير چې د پوهنې او تدريس د ښه والي او پرمختګ سبب شي، را منځته کړو؛ نو له دې امله په پام کې دی چې يادې جوړې شوې شوراګانې د ايکويپ

اداري په مرسته او ملاتړ د پوهنې او تدريس د کيفيت د لوړولو په پروګرامونو کې تر پخوا زيات اغيزمن او منظم او د يو پُل او وسيلې په توګه داسې وکارول شي چې د مسووليت منلې، ښه نيت، همکارۍ او مالکيت احساس پکې پياوړی شي چې په دې برخه کې د تعليمي نظارت لوی رياست ځانګړې مسووليت لري.

د زده کوونکو د زده کړې د اندازه کولو د ميکانيزم جوړول او کارول غواړي چې د بېلا بېلو مضمونونو د درسي کتابونو د مفرداتو پر بنسټ د زده کوونکو د پوهنيزو معيارونو په باب يو ځل بيا غور او څېړنه وشي، د تعليمي نظارت لوی رياست د هغه عملي پروګرام له مخې چې لري يې د تعليمي نصاب له رياست څخه غواړي چې د هرې دورې لکه (له لومړي ټولګي تر دريم ټولګي يا د صنفي اصول) او نورو دورو له څلورم ټولګي تر شپږم، له اووم ټولګي تر نهم ټولګي او له لسم څخه تر دولسم ټولګي پورې د معلوماتو، مهارتونو او پرمختګونو پر بنسټ د زده کوونکو پوهنيز معيارونه داسې وړاندې کړي چې دغه معيارونه په مضموني پوښتنليک کې ځای پر ځای شي او له دې لارې د زده کوونکو د زده کړې کچه په اسانه توګه درجه بندي او په عينې زمان کې د درسي کتابونو د مفرداتو ستونزو او نيمګړتياوې هم په سمه توګه تشخيص او ومونډل شي.

د يادونې وړ خبره دا ده، چې د زده کوونکو د پوهې د سنجولو د ميکانيزم له را منځته کولو، تطبيق او تحليل مخکې بايد د مضموني پوهې، د تدريس د قابليتونو (د تدريس فن او مهارت) او د ټولګي د اداره کولو په برخه کې د بېلا بېلو مضمونونو د ښوونکو تعليمي سويه او پوهه څرګنده او وټاکل شي.

د تعليمي نظارت لوی رياست کولای شي چې د ښوونکي د رزونې د رياست په مرسته نوموړی ميکانيزم پياوړی کړي. ضروري خبره ده چې د ښوونکي د روزنې رياست به د ښوونکو د مسلکي ـ تخصصي ستونزو او تعليمي کچې د تشخيص او معلومولو لپاره خاص پوښتنليک لري يا به په ورکشاپونو کې د مخکينو يا ورستيو ازموينو Pretest and past test له لارې دغه کار تر سره کوي؛ خو د ښوونکو د سويې د کچې معلومول او دقيق تشخيص د افهام او تفهيم د مهارتونو، نورو ته د مفاهيمو د ليږدولو په قوې او له ممدو درسي موادو څخه په ګټه اخيستنې پورې اړه لري چې د تعليمي نظارت لوی

رياست په ښوونځيو او ټولګي کې د خپلو پروګرامونو د تطبيقولو په اوږدو کې هغه سرته رسوي او د هغو پايلې او غبرګون به خامخا د ښوونکي د روزنې له رياست سره شريکوي.

اساسي ټکی دا دی، چې په زياتره ښاري ليسو کې د ساينس مضمونونو لابراتوارونه جوړ شوي او فعال دي، خو د ساينس زياتره ښوونکي د تجربو سر ته رسولو مهارت نه لري، دا ستونزه د دې لپاره منځته راغلې چې په زياتره ښوونځيو کې يا غير مسلکي ښوونکي د ساينس مضمونه تدريسوي يا دا چې داسې باالمقطع اجيران استخدام شوي، چې تر اوسه د کار او تدريس ارزونه نده شوې او اکثريت زده کوونکي د ساينسي مضمونونو له تدريس څخه شکايت کوي. د تعليمي نظارت لوی رياست د مسلکي ټيمونو په درلودلو سره د لابراتوارونو د فعالولو او اغيزمنولو لپاره يو خاص ميتود تر لاس لاندې نيولی او غواړي دغه ميتود د ساينس مرکز په مرسته په ټولو ښوونځيو کې پلي کړي.

ټول هغه مسايل او موضوعات چې په څو پورتنيو پروګرامونو کې ذکر شول د زده کوونکو د زده کړې د اندازه کولو (سنجش) د ميکانيزم په جوړولو او تطبيق سره چې په حقيقت يوه ابزاری بسته ده تر تجربې او ازماينښت لاندې ونيول شي او د هغه پايلې به له اړونده رياستونو سره شريکې کړو.

دا لاندې څلور ميتودونه (SWOT analysis, Study, TNA and self-evaluation) چې هر يو يې د تعليمي نظارت د رياست د پروګرامونو د تطبيق لپاره زيات ارزښت لری او له دې لارې کولای شي، ستونزې، نيمګړتياوې، خنډونه او ننګونې تشخيص او د اړوند بنسټونو په مرسته د ظرفيت په لوړولو، د ستونزو په اوارولو او اړتياوو په له منځه وړلو کې عملي ګامونه اوچت کړي. نوموړي ميتودونه په لاندې ډول درپيژندل کيږي.

## له تحليلي SWOT ميتود څخه ګټه اخيستنه يا د ښوونځي د واقعي وضعيت موندنه

دغه ميتود چې د SWOT په نوم يادېږي د بيلا بيلو پروګرامونو د مديريت او ارزونې په ډګر کې د ډېر مهم او ګټور اصل په توګه کارول کيږي. د هغو خيړنو له مخې چې تر اوسه شوې د ادارو د پروګرامونو د پرمختګ لپاره د نومړې ميتود پايلې ګټورې ثابتې شوې دي. SWOT څلور توري د قوت، ضعف، فرصت او ګواښ يا خطر مفهوم افاده کوي.

لومړی توری S (قوت) د ادارې داخلي فکتور ګڼل کيږي، چې د ادارې په بريالیتوب کې مهم رول لري.

دويم توری (W) يا (ضعف) هم يو داخلي فکتور دی، چې د يوې ادارې د ننني نيمګړتياوې په ډاګه کوي؛ خو دريم توری (O) (فرصتونه) او څلورم توری (T) (ګواښونه) بهرني فکتورونه دي چې کولای شي له ښو فرصتونو څخه د نيمګړتياوو د له منځه وړلو لپاره ګټه پورته کړو دغه راز ګواښونه او خطرونه هم د بهرنيو فکتورونو له ډلې څخه دی چې د ادارې او پروګرام د کار دوام تر پوښتنې لاندې راولي او ښايي هغه له منځه يوسي د دغه ميتود اهميت او اغيزې ته په کتو سره د هغه د تطبيق تګلاره بايد د تعليمي نظارت په سيستم کې په جدي توګه په نظر کې ونيول شي او د عملي کولو لارې چارې يې په ولايتونو او ولسواليو کې د نظارت ټولو غړو ته وروپيژندل شي.

دغه ميتود زياتره د پروګرام د تطبيق په منځ او کله له هرې ربعې وروسته د کار د پرمختګ بهير په څلورو فکتورونو تر څيړنې لاندې نيسي.

۱ـ دغه ميتود په بيلا بيلو بڼو لکه: انفرادي او ډله ييزه توګه تر سره کوي.

دغه راز دغه ميتود په داسې لارو لکه: مرکه، ګروپي بحثونو، د ارقامو او معلوماتو وړاندې کولو، پوښتنليکونو او ... تر سره کيږي.

۲ـ مطالعه يا Study: دغه ميتود معمولاً د پروګرام د تطبيق د شرايطو او وضعيت د تشخيص او هغو ننګونو چې د هغه په وړاندې شتون لري او دغه راز د بيلا بيلو

پروګرامونو د تطبيق په بهير کې د ستونزو د کچې د موندلو چې ښوونه او روزنه هم د دغو پروګرامونو له جملې څخه ده ، کارول کيږي.

۳ـ د اړتيا موندنې ميتود يا Need Assessment چې مخکې يې يادونه شوې ده:
دغه ميتود په بيلا بيلو پروګرامونو او بيلا بيلو بڼو؛ لکه: سروې، پوښتنليک، معلوماتو راټولولو او ... تر سره کيږي؛ خو په ښوونه او روزنه کې د اړتياوو د موندلو او نورو لومړيتوبونو د موندلو لپاره کارول کيږي.

۴ـ د ځان ارزونې ميتود (Self-assessment) دغه ميتود په ښوونځيو کې د مديرانو، مرستيالانو او سرښوونکو او دغه راز په ټولګي کې د ښوونکو له خوا کارول کيږي. د تعليمي نظارت رياست د دواړو ميتودو لپاره هم د ښوونځي د ادارې د کړنو او هم په ټولګي کې د تدريس او زده کړې د ټوليز وضعيت د ارزونې لپاره منظم وسايل او ابزار برابر او په ښوونځيو کې عملي کړي دي.

## د تعليمي نظارت د رپوټ ورکولو سيستم او دوران

راپور د ليدل شويو، اوريدل شويو او سرته رسول شويو فعاليتونو له تشريح څخه عبارت ده، راپور کيداى شي تحريري يا شفاهي وي چې په دواړو بڼو بايد لنډ، روښانه، کره او دقيق وي. په تعليمي نظارت کې راپور زيات اهميت لري او په کتبي بڼه جوړيږي، د ښوونکو د تدريس د بهير او د ښوونځي د ادارې د مديريت د مشاهدې راپور کولاى شي ستونزې او نيګرتياوې بربنډې او د هغو د له منځه وړلو او ښه والي لپاره دقيق او اغيزمن پلان ترتيب شي.

د ښوونکي د تدريس له کتنې څخه د تعليمي نظارت د رپوټ ورکولو سيستم کيداى شي، د هر ښوونځي په کچه برابر شي د دې لپاره چې رپوټ د ولايت د پوهنې آمريت، د ولايت د پوهنې له رياست، د تعليمي نظارت له لوى رياست او نورو اړونده ادارو سره شريک شي لاندې پړاوونه بايد تير کړي.

د ولسوالۍ په کچه:

په ولسوالیو کې د تعلیمي نظارت ځای پر ځای شوی ټیم د هر ښوونځي له نظارت وروسته د هغه رپوټ په جداګانه توګه ترتیبوي او د رشتې له مخې د ښوونکو د تدریس د مشاهدې له فورم سره یو ځای یې د نظارت په آمریت کې په یو ځانګړې دوسیه کې ثبت او خوندي کوي. د هر ښوونځي په باب د ځانګړی رپوټ جوړولو څخه هدف د ښوونځیو څخه د نظارت او مشاهدې د دویم پړاو له رپوټ سره د هغه پرتله کول دي. د هرې میاشتې په پای کې د نظارت او ارزونې آمر د نظارتي ټیم رپوټونه سره یو ځای کوي او د وروستیو اجراأتو لپاره یوه کاپی د ولسوالۍ د پوهنې مدیریت او یوه کاپي د ولایت د پوهنې د ریاست د نظارت او ارزونې آمریت ته سپاري.

د ولایت په کچه:

د ولایتونو د پوهنې په ریاستونو کې ځای پر ځای شوی د نظارت او ارزونې آمریتونه دهرې میاشتې په پای کې د ولسوالیو د نظارت او ارزونې د آمریتونو رپوټونه په دقیقه توګه مطالعه کوي او د خپل نظر له څرګندولو وروسته یې د تعلیمي نظارت د همغږۍ آمریت ته سپاري. د همغږۍ آمریت د ولسوالیو د نظارت او ارزونې د آمریتونو د رپوټونو او میاشتنیو فعالیتونو د توحید او د هرې ولسوالۍ د آمریتونو د (فیډبک) د ورالندې کولو مکلفیت په غاړه لري. د رپوټ له برابرولو وروسته یوه کاپي یې د ولایت د پوهنې ریاست ته لیږي، څو اړوند ریاست د تعلیمي نظارت د موندنو له مخې لازم تصمیمونه ونیسي.

دغه راز د ولایت د همغږۍ آمریت مکلف دی، چې ربعوار راپور جوړ او کاپي یې د تعلیمي نظارت ریاست ته ولیږي. د تعلیمي نظارت لوی ریاست له هر اړخیز تحلیل او څیړنې وروسته د هغه (فیډبک) برابروی، څو د ولایتونو د نظارت آمریتونه د رپوټ کیفیت لوړ کړي. دغه راز د تعلیمي نظارت لوی ریاست مکلف دی، چې د پوهنې وزارت مرکزي ریاستونه د یو تشریحي مکتوب له لارې د اړوندو مواردو په باب خبرتیا ورکړي، څو لازم تصمیمونه ونیسي.

بریالی اوسې